مسلم
خپرندویه ټولنه

# آسانه لمونځ

Downloaded From:
Telegram: ArmanPashtoLibrary
WhatsApp: 0093779815770
Facebook: آرمان پښتو کتابتون

ليکو ال: مو لا نا محمد عا شق الهي بلند شهري

ژباړن: مولوي عبدالله مسلم

Download from: www.aghalibrary.com

CamScanner

Download from: www.aghalibrary.com
CamScanner

مسلم
خپرندویه ټولنه

**کتاب پېژندنه**

| | | |
|---|---|---|
| د کتاب نوم | : | اسانه لمونځ |
| لیکوال | : | مولانا محمد عاشق الهي بلند شهري |
| ژباړن | : | مولوي عبید الله مسلم |
| **خپرندوی** | : | **مسلم خپرندویه ټولنه – جلال آباد** |
| کمپوز | : | مصلح الدین حامد |
| چاپ کال | : | ۱۳۹۲ |
| چاپ شمېر | : | ۲۰۰۰ ټوکه |
| چاپ وار | : | دویم |
| د خپرونو لړ | : | ۷۲ |

د چاپ حقوق له خپرندویې ټولنې سره خوندي دي

د ترلاسه کېدو ځایونه

**مسلم کتاب پلورنځی**

پته: اسحاقزی مارکېټ، لاندینی پوړ، جلال آباد ښار، افغانستان

اړیکشمېرې: ۰۷۰۷۷۵۴۰۳۱ – ۰۷۰۶۲۲۲۴۶۳

برېښنا لیک: muslim-pub@yahoo.com

**ضیاء کتاب پلورنځی**

پته: اسحاقزی مارکېټ، لاندینی پوړ، جلال آباد ښار، افغانستان



Download from: www.aghalibrary.com
CamScanner

Download from: www.aghalibrary.com

# لړلیک


| موضوع | مخ |
|---|---|
| د لیکوال سریزه او غوښتنه | ۱ |
| د ژباړن سریزه | ۲ |
| د ایمان بیان | ۴ |
| د توحید کلمه | ۴ |
| د شهادت کلمه | ۴ |
| مجمل ایمان | ۵ |
| مفصل ایمان | ۵ |
| د طهارت (پاکوالي) بیان | ٦ |
| د اوداسه فرضونه | ٦ |
| د اوداسه سنتونه | ٦ |
| د اوداسه مستحبات | ۷ |
| د اوداسه مکرهات | ۷ |
| د اوداسه ماتوونکي | ۷ |
| د اودس کولو طریقه | ۸ |
| د غسل طریقه | ۱۰ |
| د غسل فرضونه | ۱۱ |
| د غسل سنتونه | ۱۱ |
| د غسل مکروهات | ۱۱ |


Download from: www.aghalibrary.com

CamScanner

# لړلیک

موضوع | مخ


د تیمم بیان ........................ ۱۱

د تیمم طریقه ........................ ۱۲

د تیمم ماتوونکي ........................ ۱۲

د لمانځه بیان ........................ ۱۲

د پنځو لمونځونو رکعتونه ........................ ۱۳

د جُمعې لمونځ ........................ ۱۴

د لمانځه نیت ........................ ۱۵

اذان ........................ ۱۵

اقامت ........................ ۱۶

د لمانځه ذکرونه ........................ ۱۷

ثناء ........................ ۱۷

تعوذ ........................ ۱۸

تسمیه ........................ ۱۸

سورة الفاتحه ........................ ۱۸

سورة الکوثر ........................ ۱۹

سورة الاخلاص ........................ ۱۹

سورة الفلق ........................ ۱۹

سورة الناس ........................ ۱۹


Download from: www.aghalibrary.com

CamScanner

# لړ لیک

موضوع | مخ


د رکوع تسبیح ........................ ۲۰
د قومې تسبیح ........................ ۲۰
د قومې تحمید ........................ ۲۰
د سجدې تسبیح ........................ ۲۰
تشهد ........................ ۲۰
درود ........................ ۲۱
له درود نه وروسته لومړۍ دعا ........................ ۲۲
له درود نه وروسته دویمه دعا ........................ ۲۲
سلام ........................ ۲۲
د لمانځه نه وروسته دعا ........................ ۲۲
د لمانځه اداءکولو طریقه ........................ ۲۳
د سړي اوښځې په لمانځه کې فرق ........................ ۲۶
د وترو د لمانځه اداء کولو طریقه ........................ ۲۷
دعاءقنوت ........................ ۲۷
د لمانځه فرضونه، واجبات، سنتونه او مکروهات ........................ ۲۸
د لمانځه فرضونه ........................ ۲۸
دلمانځه شرطونه: ........................ ۲۸
د لمانځه واجبات ........................ ۲۹


Download from: www.aghalibrary.com
CamScanner

# لړلیک

موضوع | مخ


د لمانځه مفسدات (ماتونکي) ........ ۳۰
د لمانځه سنتونه ........ ۳۱
د لمانځه مستحبات ........ ۳۲
د لمانځه مکروهات ........ ۳۳
د سهوې سجده ........ ۳۴
سهوې د سجدې طریقه ........ ۳۴
د قصرلمونځ ........ ۳۴
د اخترونو بیان ........ ۳۶
د اخترونو احکام ........ ۳۶
د اختر د لمانځه طریقه ........ ۳۶
د تلاوت سجده ........ ۳۸
د جنازې لمونځ ........ ۳۸
د جنازې د لمانځه اداء کولو طریقه ........ ۳۹
شپږ کلمې ........ ۴۲
څلویښت نبوي دعاګانې ........ ۴۴
سورتونه ........ ۵۴


Download from: www.aghalibrary.com
CamScanner

# د لیکوال سریزه او غوښتنه

بسم الله الرحمن الرحیم

نحمده و نصلي علی رسوله الکریم.

څو کاله وړاندې مې د ائینه نماز په نامه یو کتاب ولیکه چې په هغې کې مې په ډېر تفصیل سره مسایل او فضایل ذکر کړل، د هغې نه وروسته مې دا ضرورت احساس کړ چې وړو ماشومانو لپاره د لمانځه د اسانه زده کړې په مقصد یوه وړه رساله لیکل ضروري دي چې په اسانه اردو ژبه او د اسلامي مدرسو او مکتبونو په لومړیو ټولګیو کې په نصاب کې داخل شي د همدې ضرورت په اساس دا رساله ترتیب شوه چې په اصل کې د ائینه نماز د کتاب لنډیز دی.

په دې کتاب کې د لمانځه اذکار، ضروري مسایل، د اودس او غسل کولو طریقه، د لمانځه ترکیب، رکعتونه، د سهوې او تلاوت سجدې، د جُمعې لمونځ، د جنازې او اخترونو لمونځونه ماشومانو ته مې ترتیب او د زده کړې په مقصد راغونډ کړل. مسایل مې د حنفي فقهې له معتبرو او غوره کتابونو او احادیث مې له مشکوة څخه راخیستي دي د ضرورت په اساس مې د کتاب په پای کې څلوېښت دعاګانې له ژباړې سره لیکلې. هیله ده چې د مدرسو او مکتبونو مسوولین دا رساله په خپل تدریسي نصاب کې شامل کړي او د اجر مستحق وګرځي.

وبالله التوفیق

د دعا غوښتونکی

محمد عاشق الهي بلند شهري غفر له

۱۳۸۷ هـ ق

Download from: www.aghalibrary.com
CamScanner

# د ژباړن سریزه

الحمد لله وحده والصلاة والسلام على من لا نبي بعده!

درنو لوستونکیو! لمونځ په اسلام کې د ایمان څخه وروسته داسې یو عبادت دی چې ارزښت یې په قرآن کریم کې په بېلا بېلو ډولونو باندې بیان شوی دی.

الله جَلَّ جَلَالُهُ فرمايي: وَ اَقِیۡمُوا الصَّلٰوۃَ وَ لَا تَکُوۡنُوۡا مِنَ الۡمُشۡرِکِیۡنَ ﴿۳۱﴾. ژباړه: او لمونځ قائم کړئ او له مشرکانو څخه مه کېږئ.

او رسول الله ﷺ فرمايلي دي: مُرُوا أَوْلَادَكُمْ بِالصَّلَاةِ وَهُمْ أَبْنَاءُ سَبْعِ سِنِينَ، وَاضْرِبُوهُمْ عَلَيْهَا. ژباړه: په اووه کلنۍ کې خپلو بچیانو ته د لمانځه کولو امر وکړئ او په نهه کلنۍ کې یې د لمانځه په نه کولو ووهئ.

همدارنګه د قیامت په ورځ به له انسان څخه لومړی د لمانځه پوښتنه کېږي. رسول الله ﷺ فرمايي: إِنَّ أَوَّلَ مَا يُحَاسَبُ بِهِ العَبْدُ يَوْمَ القِيَامَةِ مِنْ عَمَلِهِ صَلَاتُهُ، فَإِنْ صَلُحَتْ فَقَدْ أَفْلَحَ وَأَنْجَحَ، وَإِنْ فَسَدَتْ فَقَدْ خَابَ وَخَسِرَ. ژباړه: د قیامت په ورځ به د ټولو عملونو څخه وړاندې له انسان څخه د لمانځه په اړه پوښتنه کېږي که لمونځ یې سم راوخوت؛ نو دا کس کامیاب شو؛ خو که چېرته یې لمونځ ناسم راوخوت نو ناکام شو.

دې ته په پام سره مو خپلو درنو او مؤمنو هېواد والو لپاره د مولانا محمد عاشق الهي بلند شهري اسان نماز کتاب له اردو ژبې څخه پښتو ته وژباړه، ځکه چې په دې کتاب کې د لمانځه ذکرونه،

Download from: www.aghalibrary.com
CamScanner

ضروري مسایل، د اودس او د غسل کولو طریقه، د لمانځه ترکیب، رکعتونه، د سهوې او تلاوت سجدې، د جمعې لمونځ، د جنازې او اخترونو لمونځ په ډېر ښکلي ترتیب سره بیان شوي دي، ترڅو وکولای شي زموږ ماشومان ورڅخه پوره ګټه واخلي.

او په پای کې له خوږو لوستونکیو څخه هیله کوم که چېرته مو په دې کتاب کې کومه نیمګړتیا ولیده د مهربانۍ له مخې مسلم خپرندویې ټولنې ته یې وسپارئ چې په راتلونکي چاپ کې اصلاح کړي.

مولوي عبيد الله مسلم

د شیخ نجم الدین اخند زاده عالي دارالعلوم مدرس

Download from: www.aghalibrary.com
CamScanner

## د ایمان بیان

ګرانوماشومانو!

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي

داسلام بنسټ اواساس پرپنځوشیانوولاړدی:

لومړی: دا ګواهي ورکول چې د الله جل جلاله څخه پرته د عبادت لایق نشته دی اومحمدصلی الله علیه وسلم د الله جل جلاله پیغمبردی

دویم: لمونځ کول

دریم: زکات ورکول

څلورم: حج کول د هغه چا لپاره چې د بیت الله دتللوتوان ولري.

پنځم: د رمضان د میاشتې روژې نیول

الله جل جلاله یو دی له هغه پرته بل څوک د عبادت وړنشته دی او محمدصلی الله علیه وسلم د الله جل جلاله رښتونی او وروستنی پیغمبردی.

په دې دواړو خبرو باندې ګواهي ویل په ژبه اقرار او پر زړه تصدیق کولوته ایمان ویل کیږي.

### د توحیدکلمه

لَآإِلَهَ إِلاَّاللّٰهُ، مُحَمَّدًا رَسُولُ اللّٰهِ،

ژباړه: له الله جل جلاله څخه پرته بل د عبادت او بندګۍ وړ نشته او محمد صلی الله علیه وسلم د هغه استازی دی.

### د شهادت کلمه

أَشهَدُ أنْ لا إلهَ إلا الله وحدَه، لاشريكَ لَهُ، وَأَشهد أنْ مُحَمَّدًا عبدُه

Download from: www.aghalibrary.com

CS CamScanner

ورسوله،

ژباړه: زه ددې ګواهي وايم چې د الله جل جلاله نه پرته بل د عبادت وړ نشته، هغه يو دی شريک نه لري او ددې ګواهي وايم چې محمد د الله جل جلاله بنده او رسول دی.

رسول الله صلی الله عليه وسلم چې څه وايي او په څه شي امرکوي هغه ټول حق اوريښتيا دي، د هغوی منل ضروري او فرض دي محمدصلی الله عليه وسلم چې له غيبو څه ويناوې کوي لکه: د قيامت راتګ، له مرګ نه وروسته بيا ژوندي کېدل، د ميزان تله او حساب، اسمان ته د هغه تلل او داسې نور حق دي

د الله جل جلاله پر کتابونو، ملايکو او ټولو پېغمبرانو ايمان درلودل هم فرض دي، دې ته مجمل او مفصل ايمان وايي.

## مجمل ايمان

آمَنْتُ بِاللّٰهِ، كَمَاهُوَ بِأَسْمَائِهِ وَصِفَاتِهِ وَقَبِلْتُ جَمِيعَ أَحْكَامِهِ.

ژباړه: په الله جل جلاله او د هغه په نومونواو صفتونو ايمان مې راوړی دی او د هغه ټول حکمونه مې منلي دي

## مفصل ايمان

آمَنْتُ بِاللّٰهِ، وَمَلَائِكَتِهِ، وَكُتُبِهِ،وَرُسُلِهِ، وَالْيَوْمِ الْآخِرِ، وَالْقَدَرِ خَيْرِهِ وَشَرِّهِ مِنَ اللّٰهِ تَعَالَى وَالْبَعْثِ بَعْدَ الْمَوْتِ.

ژباړه: په الله جل جلاله د هغه پر ملايکو، کتابونو، رسولانو، د قيامت په ورځې دا چې د ښه او بد تقدير د الله جل جلاله له لورې دی او له مرګ نه وروسته به بيا ژوندي کېدلو باندې مې ايمان راوړی دی.

Download from: www.aghalibrary.com
CamScanner

## د طهارت (پاکوالي) بیان

په اسلام کې طهارت یا پاکوالی لویه مرتبه لري.
الله جل جلاله په قران کریم کې فرمایي:

﴿إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ التَّوَّابِينَ وَيُحِبُّ الْمُتَطَهِّرِينَ﴾[1]

ژباړه: د الله جل جلاله هغه خلک خوښېږي چې له بدیو نه لاس واخلي او سپېڅلتیا غوره کړي.

د لمانځه د صحت لپاره د بدن، کالیو، د لمانځه د ځای پاکوالی او د اودس لرل شرط دي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: الله جل جلاله لمونځ پرته له اوداسه نه قبلوي.

## د اوداسه فرضونه

د اوداسه فرضونه څلور دي.

لومړی: د ټول مخ وینځل دي د تندي د ویښتانو د شنه کېدو له ځایه نیولي د زنې تر لاندې برخې پورې او د یو غوږ له نرمۍ څخه د بل غوږ تر نرمۍ پورې

دویم: د دواړو لاسونو وینځل تر څنګلو پورې.

درېیم: د سر د څلورمې برخې مسحه کول.

څلورم: د دواړو پښو تر ښنګرو پورې وینځل.

## د اوداسه سنتونه

۱-نیت کول ۲-په پیل کې بسم الله الرحمن الرحیم ویل ۳-

[1]-- سورت البقره ۱۲۲- ایت

Download from: www.aghalibrary.com
CamScanner

ترمړوندونوپورې د دواړولاسونووينځل ۴- مسواک وهل ۵- درې ځلې دخولې وينځل.
۶-درې ځلې دپوزې وينځل ۷- درې ځلې دټول مخ وينځل ۸-دټول سراو غوږونومسحه کول ۹-دګوتواو ږيرې خلالول ۱۰- دلومړي وينځل شوي اندام له وچېدونه مخکې دبل اندام وينځل ۱۱- په هغه ترتيب دبدن دغړو وينځل دي لکه څرنګه چې په ايت کريمه کې راغلي دي يعنې لومړی مخ دويم لاسونه درېيم دسرمسحه اوڅلورم دپښووينځل دي دسنت په پرېښودلوسره اودس کېږي خوثواب اواجرېې کم وي.

## د اوداسه مستحبات

۱-قبلې ته مخامخ کېناستل ۲-له ښې لورې اودس شروع کول ۳-په اوداسه کې له چانه مرسته نه غوښتل ۴- اوداسه ته په لوړځای کېناستل ۵-اوداسه نه پاتې اوبه څښل.
دمستحبوپرېښودوسره اودس کېږي خودمستحبوچې کوم ثواب اواجردی هغه نه ترلاسه کېږي دمستحبورتبه دسنتوڅخه کمه ده.

## د اوداسه مکرهات

۱-پرناپاکه ځای باندې اودس کول. ۲-په ښې لاس پوزه پاکول.
۳-په اوداسه کې دنيوي خبرې کول ۴-له سنت طريقې څخه مخالف اودس کول ۵- په تيزۍ او زورسره مخ ته اوبه اچول.

## د اوداسه ماتوونکي

۱-د دواړو لاروڅخه دمتيازو اوياباداخارجېدل ۲-له بدن نه د وينې

Download from: www.aghalibrary.com
CamScanner

اویازوي بهېدل ۳-په ډکه خوله قی کول ۴- په ملاسته اویاپه ناسته خوب کول.
۵-نېشه کېدل یابې هوشه کېدل ٦-لېونتوب ۷-اوپه هغه لمانځه کې چې رکوع اوسجده وري په زوره خندل.

## د اودس کولو طریقه

داودس کولوطریقه داده چې به پاک لوښي کې په پاکې اوبه راواخلي په پاک اولوړځای کینئ چې اوبه نه درالوځي مخامخ به قبلې ته کېنئ، لستوڼي به رابډوهئ اوبسم الله به ووایئ.
دواړه لاسونه په ترمړوندوپورې ووینځئ.
په ښي لاس به درې ځلې خول ته اوبه واچوئ اوغړغړه به وکړئ، مسواک اویادشهادت ګوته به په خوله کې ووهئ.
په ښې لاس په درې ځلې په پوزه کې اوبه واچوئ اوپه چپ لاس به پوزه سوړن کړئ اوپاکه به يې ووينځئ دپوزې له وينځلوڅخه هدف دادی چې دساه وېستلوسره دپوزې وروستنی برخې ته اوبه ورسېږي.
درې ځلې به ټول مخ په دواولاسونووينځئ مخ ته به په زوره اوبه مه اچوئ بلکې په ارام به يې په تندي واچوئ اولاس په پرې راکش کړئ دمخ اندازه دوېښتانودشنه کېدلوله ځای نه ترزنمې دبل غوږترزنمې پورې ده داټول وينځل کېږي بيابه دواړه لاسونه لومړی ښې لاس اودويم به چپ لاس له څنګلوسره درې ځلې ومينځئ.
دواړه لاسونه به په اوبولامده کړئ اوټول به له اوله ترپايه پورې مسحه کړئ بيابه غوږونه مسحه کړئ خومسحه يوائې يوځل کېږي وروسته به دواړه پښې لومړی ښې اودويم چپه پښه له ښنګرو سره

درې، درې ځلې ومينځئ.

دسرمسحه کولوطريقه داده چې دواړه لاسونه به په اوبولامده کړئ، د دواړو لاسونوګوتې دتندې پروېښتانوکېږدئ اوڅټ پورې يې راکش کړئ اوبيابه دلاسونوورغوي دڅټ نه شروع ترتندې پورې راکش کړئ ورسره به غوږونومسحه داسې وکړئ چې دغوږونوپه سوريو کې به دشهادت ګوتې ننباسئ اوپه غټوګوتو به دغوږونوشامسحه کړئ اود ګوتوپه شابه غاړه مسحه کړئ، کله چې له اودس نه فارغه شوئ نوپه پای کې به دادعاووايئ:

أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ، (٢)

اللَّهُمَّ اجْعَلْنِي مِنَ التَّوَّابِينَ، وَاجْعَلْنِي مِنَ الْمُتَطَهِّرِينَ، (٣)

ژباړه: زه ددې ګواهي ورکوم چې دالله جل جلاله نه پرته بل دعبادت، وړنشته هغه يودی،شريک نه لري اوددې ګواهي ورکوم چې محمد صلی الله عليه وسلم دالله جل جلاله بنده اورسول دی ای الله ماله توبه وېستونکو او دپاکو کسانوڅخه وګرځوه.

---

[١]- احمد، مسلم او ابوداود

[٢]- ترمذي ٥٥

Download from: www.aghalibrary.com
CamScanner

# د غسل طریقه

کله چې د غسل اراده وکړئ، نولومړی استنجاء وکړئ ښکاره ناپاکي لرې کړئ د غسل نه مخکې د لمانځه د اودس په شان اودس وکړئ که مو په تخته، تیږه او یا لوړ ځای اودس کاوه پښې ووینځئ اوکه غسل مو په داسې ځای کې کاوه چې هلته اوبه ډنډوي نو بیاپښې له غسل څخه وروسته ومینځئ د غسل په اودس کې موفکروي چې ترحلق پورې اوبه ورسوئ که روژه مونه وي د پوزې ورروستۍ برخې ته اوبه ورسوئ بیا درې ځلې پر سر او درې ځلې په ښي او چپه اوږه اوبه واچوئ کوښښ وکړئ چې هر ځای ته اوبه ورسیږي، که د ویښته په اندازه کوم ځای وچ پاتې شي غسل نه کیږي.

مسئله: که له غسل څخه وروسته پوه شوئ چې کوم ځای وچ پاتې دی یوازې هغه ځای ومینځئ دویم ځل غسل ته ضرورت نشته.



Download from: www.aghalibrary.com
CamScanner

## د غسل فرضونه

دغسل فرضونه درې دي.

۱-د خولې وينځل ۲-د پوزې وينځل ۳-يوځل د ټول بدن وينځل

## د غسل سنتونه

د غسل سنتونه په لاندې توګه دي

۱-نيت کول ۲-ښکاره ناپاکي لرې کول اواستنجاء کول ۳-اودس کول ۴-دبدن موښل ۵-په ټول بدن باندې درې ځلې اوبه تېرول.

## د غسل مکروهات

د غسل مکروهات په لاندې ډول دي

۱-ډېرې اوبه استعمالول ۲-دومره لږې اوبه استعمالول چې غسل وربانديې نه کېږي ۳-دبربنډوالي په حال کې خبرې کول او يامخامخ قبلې ته غسل کول.

مسئله: د غسل په حال کې د عورت ځايونه ښکاره کول حرام دي.

## د تيمم بيان

که يو چاته د اودس يا غسل ضرورت وي، اوبه نه وي او يا هغه کس د اوبو له استعمال نه عاجزوي، لکه سړی ناروغه وي اودس کول ورته ضرر رسوي، ناروغي يې زياتېږي او يا له څاه نه د اوبو را ويستلو الات او سامان نه وي د دښمن وېره وي او يا په سفر کې د يو ميل په اندازه له اوبو څخه لرې وي نو په دې ټولو صورتونوکې روا ده چې د اودس او غسل پرځای تيمم وکړي.

Download from: www.aghalibrary.com
CamScanner

## د تیمم طریقه

په تیمم وهلوکې نیت فرض دی نیت به داسې کوي چې د ناپاکی د لرې کېدلو او د لمانځه راته د روا کېدلو لپاره تیمم کوم خو د نیت الفاظ به په خوله نه وايي ځکه د نیت الفاظ په خوله نشته د نیت وروسته به دواړه لاسونه لږ ټنډه وهي او خپل ټول مخ چې په اودس کې مینځل کېږي مسحه کړي.
په دویم ځل به بیا دواړه لاسونه پر پاکه ځمکه ووهي او لږ به یې ټنډه وهي په چپ لاس به ښي لاس او په ښي لاس به چپ لاس تر څنګلو پورې مسحه کړي ګوتې به هم خلال کړي د بې اوسی او د غسل په تیمم کې فرق نشته څومره پاکوالی چې په اودس او غسل سره کېږي هومره په تیمم سره هم کېږي او که چېرته شل کاله هم اوبه ونه موندل شوي تیمم کولای شي.

## د تیمم ماتوونکي

په څه شي چې اودس ماتېږي، تیمم هم وړاندي ماتېږي که چېرته اوبه پیدا شي او په استعمالولو یې طاقت وي نو په دې وخت کې هم تیمم ماتېږي.
مسئله: که پر چا غسل فرض و او د اوداسه او غسل دواړو لپاره یو تیمم بس دی دوه ځلې تیمم لازم نه دی.

## د لمانځه بیان

ګرانوماشومانو! الله جل جلاله زموږ واکدار او پیدا کوونکی دی په خپلو بندګانو یې په شپه او ورځ کې پنځه وخته لمونځونه فرض کړي

Download from: www.aghalibrary.com
CamScanner

دي چې نومونه يې په لاندې توګه دي.
۱-د سهارلمونځ: له صبح صادق څخه شروع کېږي اوتر لمر ختلو پورې اداء کېږي ۲-د ماسپخين لمونځ: د زوال «د لمر ګرځيدلو» نه وروسته کېږي.
۳-د مازديګر لمونځ: د لمر پرېوتلو څخه يو نيم يا دوه ساعته مخکې اداء کېږي
۴-د ماښام لمونځ: د لمر پرېوتلو سره سم اداء کېږي.
۵-د ماسختن لمونځ: د لمر پرېوتلو نه يو نيم يا دوه ساعته وروسته اداء کېږي رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي:
هغه څوک دين نه لري چې لمونځ نه کوي په اسلام کې لمونځ هغه مرتبه او حيثيت لري لکه سر چې يې په بدن کې لري لکه له سر پرته چې انسان ژوندی پاتې کېدلای نه شي همدارنګه له لمانځه پرته څوک پوره مسلمان پاتې کېدلای نه شي.
رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: له چانه چې يو لمونځ پاتې شي، دومره تاوان ورته رسېږي لکه د کور ټول شيان چې يې ورک شي.
ګورئ ماشومانو! لمونځ څومره ضروري شی دی پام مو وي چې کله يې پرې نږدئ.

## د پنځو لمونځونو رکعتونه

۱-د سهار لمونځ څلور رکعته دی دوه لومړني رکعتونه يې سنت دي او دوه وروستني رکعتونه يې فرض دي.
۲-دماسپخين لمونځ لس رکعته دی لومړني څلوررکعته سنت دي بيا

Download from: www.aghalibrary.com
CamScanner

څلور رکعته فرض او وروستني دوه رکعته سنت دي.
۳-د مازدیګرلمونځ څلور رکعته دی څلور واړه فرض دي.
۴-د ماښام لمونځ پنځه رکعته دی لومړني درې رکعته فرض دي او وروستني دوه رکعته سنت دي.
۵-د ماسختن لمونځ نهه رکعته دی لومړني څلور رکعته فرض بیا دوه رکعته سنت او وروستني درې رکعته وتر واجب دي.

## د جُمعې لمونځ

د جمعې په ورځ د ماسپخین په وخت د ماسپخین د لمانځه په ځای د جمعې لمونځ اداء کېږي هغه دولس رکعته دی لومړني څلور رکعته سنت، دوه رکعته فرض، څلور رکعته سنت او وروستني دوه رکعته سنت دي.

مسئله: د جمعې لمونځ پر ښځوفرض نه دی هغوی به د ماسپښین لمونځ کوي.

مسئله: د جمعې د لمانځه لپاره جماعت ضروري دی له جماعت پرته لمونځ نه کېږي که چا د امام سره د جمعې لمونځ ونه کړ هغه به یوائې د ماسپښین لمونځ کوي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: څوک چې پرته له عذره د جمعې لمونځ پرېږدي، هغه په هغه کتاب کې د منافق په صفت لیکل کېږي چې د هغه خط نه پاکېږي اونه یې بدلېږي

مسئله: د نفلو د لمانځه حکم دا دی چې څوک یې وکړي ثواب لري، که چېري یې پرېږدی نو ګناه نه لري خو له ثواب څخه بې برخې کېږي د سنتو مؤکدو ډېر ټینګار شوی دی هغه ضرورکړ خوکه ډېره ناروغي

Download from: www.aghalibrary.com
CamScanner

وه یا په سفرکې بیړه وه، موټر، الوتکه او یا ریل ګاډی روانیده نو بیا که سنت مؤکد پاتې شي پروا نه کوي.

مسئله: د فرضو او وترو لمونځ په هیڅ وخت کې د پرېښودلو اجازه نشته دی پرېښودل یې ډېره سخته ګناه ده د وترولمونځ واجب دی خو مرتبه یې فرض ته نږدې ده.

## د لمانځه نیت

هیڅ لمونځ هم له نیته پرته نه صحیح کېږي چې کوم لمونځ کوي د هغه نیت کول فرض دی نیت په اصل کې د زړه ارادې ته وایي لکه: د مثال په توګه یو سړی په زړه کې اراده وکړي چې د فلاني وخت څلور رکعته فرض او یا سنت لمونځ کوم او که چېرته امام پسې لمونځ کوي د هغه د مقتدي توب نیت به کوي په ژبه باندې نیت کول ضروري نه دی.

مسئله: په پنځه وخته لمونځونو کې یواځې فرض په جماعت سره کېږي خو د روژې په میاشت کې وترلمونځ هم په جماعت سره کېږي.

## اذان

د فرض لمونځونو لپاره اذان کول سنت دی د اذان الفاظ په لاندې توګه دي:

اللَّهُ أَكْبَرُ.........اللَّهُ أَكْبَرُ.........اللَّهُ أَكْبَرُ.........اللَّهُ أَكْبَرُ

الله تر ټولو لوی دی ـ الله تر ټولو لوی دی ـ الله ته ټولولوی دی ـ الله تر ټولو لوی دی.

أَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ.........أَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ

زه د دې ګواهي وایم چې له الله پرته د عبادت ورنشته دی. زه د دې

Download from: www.aghalibrary.com

CamScanner

ګواهي وایم چې له الله پرته د عبادت وړ نشته دی.

أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللّٰهِ.........أَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللّٰهِ

زه د دې ګواهي وایم چې محمد صلی الله علیه وسلم د الله جل جلاله رسول دی.

حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ.........حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ

لمانځه ته راشئ.........لمانځه ته راشئ

حَيَّ عَلَى الفَلَاحِ.........حَيَّ عَلَى الفَلَاحِ

د کامیابۍ لورې ته راشئ.........د کامیابۍ لورې ته راشئ

اللّٰهُ أَكْبَرُ.........اللّٰهُ أَكْبَرُ

الله تر ټولو لوی دی.........الله تر ټولو لوی دی

لاَ إِلَهَ إِلاَّاللّٰهُ.........له الله نه پرته بل دعبادت وړ نشته دی

د اذان کولو پر وخت دې د شهادت ګوتې په غوږونوکې کېږدي مخامخ دې قبلې ته ودرېږي او په لوړ غږ دې اذان وکړي د حَيَّ عَلَى الصَّلَاةِ د ویلو پر وخت دې ښې طرف ته او د حی علی الفلاح د ویلو پر وخت دې چپ طرف ته مخ واړوي د سهار په اذان کې تر علی الفلاح ویلو وروسته الصلوة خیرمن النوم ویل کېږي.

## اقامت

کله چې د فرض لمانځه د اداءکولو لپاره ودرېږئ، د لمانځه تر شروع کېدلونه مخکې دې یو کس هغه الفاظ ووایي چې په اذان کې ویل کېږي، دې ته اقامت وایي په اقامت کې د حی علی الفلاح څخه

Download from: www.aghalibrary.com

CamScanner

وروسته دوه ځلې قد قامت الصلوة ويل کيږي چې دا الفاظ په اقامت کې زيات دي خو په اذان کې نه ويل کيږي.
هغه کس چې اذان کوي هغه ته مؤذن وايي او هغه کس چې اقامت وايي هغه ته مُکَبِرْ وايي.

## د لمانځه ذکرونه

د لمانځه تر نيت وروسته الله اکبر او بيا ثناء ويل کيږي د تعوذ او تسمې وروسته د فاتحې سورت لوستل کيږي له دې وروسته د قران کريم يو سورت او يا څو اياتونه لوستل کيږي رکوع او سجده کوي هيڅ لمونځ دوو رکعتونو نه کم نه شته دی په وروستني رکعت کې په ناسته تشهد ،درود او دعاء لوستل کيږي او سلام ګرځول کيږي.
لومړی به موږ هغه څه وليکو چې په لمانځه کې لوستل کيږي او بيا به د لمونځ کولو طريقه وليکو د لمانځه ذکرونه په لاندې توګه دي.

### تکبير

الله اکبر

الله تر ټولو لوی دی

### ثناء

سُبْحَانَكَ اللَّهُمَّ وَبِحَمْدِكَ وَتَبَارَكَ اسْمُكَ، وَتَعَالَى جَدُّكَ، وَلَا إِلَهَ غَيْرَكَ

ژباړه: ای الله جل جلاله ! پاکي او ستاينې ستا ځې تالره دي او نوم دې مبارک شان دې لوړ دی او له تا پرته بل د عبادت وړ نشته.

Download from: www.aghalibrary.com
CamScanner

## تعوذ

اعوذ بالله من الشيطان الرجيم

ژباړه: په الله ﷻ در ټل شوي شيطان څخه زه پنا غواړم

## تسميه

بِسۡمِ اللهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ.

ژباړه: د الله جل جلاله په نامه شروع کوم چې ډېر زيات مهربانه او رحم کوونکې دی

## سورة الفاتحه

الْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ الْعَالَمِينَ (٢) الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ (٣) مَالِكِ يَوْمِ الدِّينِ (٤) إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ (٥) اهْدِنَا الصِّرَاطَ الْمُسْتَقِيمَ (٦) صِرَاطَ الَّذِينَ أَنْعَمْتَ عَلَيْهِمْ غَيْرِ الْمَغْضُوبِ عَلَيْهِمْ وَلَا الضَّالِّينَ(٧)

ژباړه: ټوله ثنا ستاينه يوازې الله ته ده چې د ټولو مخلوقاتو پالونکی دی ډېر مهربان زيات رحم لرونکی دی د جزا د ورځې مالک دی مونږ همدا تا عبادت کوو او همدا تا نه مرسته غواړو مونږ ته سمه لاره وښيه د هغو کسانو لاره چې تا پرې پېرزوېنه کړې ده نه د هغو کسانو لاره چې غضب وربانديې شوی او نه د هغو کسانو لاره چې لار ورکي دي.

Download from: www.aghalibrary.com

CamScanner

## سورة الکوثر

إِنَّآ أَعۡطَيۡنَٰكَ ٱلۡكَوۡثَرَ ۝١ فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَٱنۡحَرۡ ۝٢ إِنَّ شَانِئَكَ هُوَ ٱلۡأَبۡتَرُ ۝٣

ژباړه: (ای پېغمبره!) بېشکه مونږ تاته کوثر در کړی دی نوته د خپل هماغه رب لپاره لمونځ ادا کړه او قرباني وکړه ستا هماغه دښمن په خپله بې ستې دی.

## سورة الاخلاص

قُلۡ هُوَ ٱللَّهُ أَحَدٌ ۝١ ٱللَّهُ ٱلصَّمَدُ ۝٢ لَمۡ يَلِدۡ وَلَمۡ يُولَدۡ ۝٣ وَلَمۡ يَكُن لَّهُۥ كُفُوًا أَحَدُۢ ۝٤

ژباړه: ووایه هغه الله دی، یوازې یو الله هېچاته اړنه دی او ټول هغه ته اړدي نه هغه څوک زېږولی دی او نه هغه زېږول شوی دی او هېڅوک د هغه سیال نشته

## سورة الفلق

قُلۡ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلۡفَلَقِ ۝١ مِن شَرِّ مَا خَلَقَ ۝٢ وَمِن شَرِّ غَاسِقٍ إِذَا وَقَبَ ۝٣ وَمِن شَرِّ ٱلنَّفَّٰثَٰتِ فِي ٱلۡعُقَدِ ۝٤ وَمِن شَرِّ حَاسِدٍ إِذَا حَسَدَ ۝٥

ژباړه: ووایه زه پناه غواړم د سبا په رب د هر هغه څه له شر څخه چې هغه پیدا کړي دي او د شپې د تروږمی له شر څخه، چې کله هغه خوره شي او په غوټو کې د پو کوونکیو (نارینه و یا ښځو) له شر څخه او د رخه ناک له شر څخه چې کله هغه رخه وکړي.

## سورة الناس

قُلۡ أَعُوذُ بِرَبِّ ٱلنَّاسِ ۝١ مَلِكِ ٱلنَّاسِ ۝٢ إِلَٰهِ ٱلنَّاسِ ۝٣ مِن شَرِّ ٱلۡوَسۡوَاسِ

Download from: www.aghalibrary.com
CamScanner

الْخَنَّاسِ ۝٤ الَّذِي يُوَسْوِسُ فِي صُدُورِ النَّاسِ ۝٥ مِنَ الْجِنَّةِ وَ النَّاسِ ۝٦

ژباړه: ووايه زه پناه وړ وړم د انسانانو رب ته د انسانانو باچا ته د انسانانو حقيقي معبودته د هغه وسوسه اچوونکي له شر څخه چې په وارو وارو ځي راځي هغه چې د خلکو په زړونو کې وسوسې اچوي که هغه له پيريانو څخه وي که له انسانانو څخه.

## د رکوع تسبيح

سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيمِ،

ژباړه: زه د خپل لوی رب پاکي بيانوم

## د قومې تسبيح

سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهُ،

ژباړه: الله جل جلاله د حمد ويونکو ستاينه واوريده.

## د قومې تحميد

رَبَّنَا لَكَ الحَمْدُ،

ژباړه: پالونکيه ټولې ستاينې يواځې ستا لپاره دي.

## د سجدې تسبيح

سُبْحَانَ رَبِّيَ الْأَعْلَى

ژباړه: زما د رب شان ډېر لوړ دی

## تشهد

التَّحِيَّاتُ لِلَّهِ وَالصَّلَوَاتُ وَالطَّيِّبَاتُ، السَّلاَمُ عَلَيْكَ أَيُّهَا النَّبِيُّ

Download from: www.aghalibrary.com
CamScanner

وَرَحْمَةُ اللّٰهِ وَبَرَكَاتُهُ، السَّلاَمُ عَلَيْنَا وَعَلَى عِبَادِ اللّٰهِ الصَّالِحِينَ، أَشْهَدُ أَنْ لاَ إِلَهَ إِلَّا اللّٰهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ.

ژباړه:

ژباړه: ټول قولي، بدني او مالي عبادتونه يواځې الله جل جلاله لره دي، ای نبي عليه السلام! پر تادې سلام وي، د الله رحمت او برکتونه دې وي، سلامتيا دې وي په موږ او د الله جل جلاله په نېکو او صالحو بندګانو باندې زه ددې ګواهي ورکوم چې الله جل جلاله نه پرته بل د عبادت وړ نشته او ددې ګواهي ورکوم چې محمدصلی الله عليه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی.

## درود

اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ، وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ، إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ،

ژباړه: ای الله جل جلاله! پر محمد صلی الله عليه وسلم او د محمد پر اهل او کورنۍ درود ولېږه لکه څنګه چې دې پر ابراهيم عليه السلام او د ابراهيم عليه السلام په کورنۍ درود لېږلی دی په رښتيا سره ته ستايلی شوی او د لويئ خاوندېې.

اللَّهُمَّ بَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا بَارَكْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ، وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ "

ژباړه: او برکت نازل کړه پر محمد صلی الله عليه وسلم او د هغه په اهل اوکورنۍ باندې لکه څنګه چې دې برکت نازل کړی دی پر ابراهيم

Download from: www.aghalibrary.com
CamScanner

عليه السلام او د هغه پر اهل او کورنۍ باندې په رښتيا سره ته ستايل شوی او د لويئ خاونديې.

## له درود نه وروسته لومړۍ دعا

اَللّٰهُمَّ رَبَّنَآ اٰتِنَا فِي الدُّنْيَا حَسَنَةً وَّفِي الْاٰخِرَةِ حَسَنَةً وَّقِنَا عَذَابَ النَّارِ

ژباړه: ای زموږ ربه! راکړې موږ ته په دنيا کې نېکي او په اخرت کې نېکي او ته موږ د اور له عذاب نه وساتې.

## له درود نه وروسته دويمه دعا

اللَّهُمَّ إِنِّي ظَلَمْتُ نَفْسِي ظُلْمًا كَثِيرًا، وَلاَ يَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا أَنْتَ، فَاغْفِرْ لِي مَغْفِرَةً مِنْ عِنْدِكَ، وَارْحَمْنِي إِنَّكَ أَنْتَ الغَفُورُ الرَّحِيمُ "

ژباړه: ای الله جل جلاله !ما پر خپل ځان ډېرظلم اوتېري کړی دی او له تانه پرته څوک ګناهونه نه شي ښښلای، نو ماته له خپل طرفه ښښنه وکړه او پر ما رحم وکړه، په رښتيا سره همدا ته ډېرښښونکی او زيات مهربانه يې.

## سلام

السَّلَامُ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَةُ اللّٰهِ

ژباړه: پرتاسودې سلام اوداللّٰه جل جلاله رحمت وي

## د لمانځه نه وروسته دعا

اللَّهُمَّ أَنْتَ السَّلَامُ، وَمِنْكَ السَّلَامُ، تَبَارَكْتَ يَا ذَا الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ

ژباړه: ای الله! ته له ټولو عيبونو څخه پاک يې او ستا له طرفه

Download from: www.aghalibrary.com

CamScanner

سلامتیا ده ته د ډېر برکت خاوند یې ای د لویۍ او عزت خاونده.

فایده: د فرض لمانځه نه وروسته ۳۳ ځلې سبحان الله ۳۳ ځلې الحمدلله او ۳۴ ځلې الله اکبر ویل ډېر ثواب لري.

## د لمانځه اداء کولو طریقه

د لمونځ اداء کولو طریقه داده چې پاکې جامې واغوندئ په اوداسه په پاک ځای ته مخامخ قبلې ته ودرېږئ نیت وکړئ په لمانځه کې یو طرف بل طرف ته مه ګورئ بلکې په ادب او احترام سره ودرېږئ او د الله طرف ته متوجه اوسئ.

ثناء: سُبْحَانَكَ اللهُمَّ تر اخره پورې ولولئ وروسته تردې أَعُوذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطَانِ الرَّجِيمِ او بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ ووایئ بیا د فاتحې سورت الحمدلله تر پایه ووایئ او په اخرکې (امین) ووایئ وروسته له دې څخه لږ ترلږه درې لنډ ایتونه یا یو اوږد ایت او یا یو سورت ولولئ او د الله اکبر په ویلو سره رکوع ته لاړشئ او په خپلو لاسونو خپل زنګونه کلک ونیسئ او درې یا پنځه ځلې سبحان ربی العظیم ووایئ، له رکوع څخه وروسته د تسمیع (سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهُ) په ویلو سره سر را پورته کړئ او قومه وکړئ یعنې سم او برابر ودرېږئ او رَبَّنَا لَكَ الحَمْدُ ووایئ او د الله اکبر په ویلوسره سجدې ته لاړشئ لومړی دواړه زنګنونه بیا دواړه لاسونه او بیا وربسې د دواړو لاسونو ترمنځ پوزه اوتندی پر ځمکه کېږدي درې یا پنځه ځلې تسبیح سبحان ربي الاعلی ووایئ، له سجدې نه وروسته د الله اکبر په ویلو سره راپورته شئ سم کېنئ له دې نه وروسته دتکبیر الله اکبر په ویلو

Download from: www.aghalibrary.com
CamScanner

سره دویمې سجدې ته لاړشئ او لومړی سجدې په شان تسبیح ووایئ له دې نه وروسته د الله اکبر په ویلو سره سره را پورته کړئ او دویم رکعت لپاره سم ودریږئ د راپورته کیدلو په وخت لاسونه په ځمکه مه ږدئ په دې ترتیب سره په دواړو سجدو سره یو رکعت پوره شو اوس دویم رکعت شروع شو په دې کې تعوذ (اعوذباالله) نه شته بسم الله او الحمدلله ویل کیږي له دې نه وروسته یو سورت یا څو ایتونه ولولئ یو رکوع او دوه سجدې وکړئ او په ناسته لومړی تشهد (التحیات) ووایئ او بیا درود او دعا ووایئ او سلام وګرځوئ لومړی ښي طرف او بیا چپ طرف ته په دې توګه دوه رکعته لمونځ پوره شو.

که چیرته لمونځ دوه رکعتونو څخه زیات وي نو د تشهد ویلو وروسته د الله اکبر په ویلو سره د قیام لپاره ودریږئ بسم الله، الحمدلله او سورت ووایئ رکوع او سجده وکړئ که چیرته مو درې رکعته کول قعده (ناسته) وکړئ (تشهد) درود او دعاووایئ او سلام وګرځوئ.

او که چیرته څلور رکعته مو کول په دریم رکعت کې مه کینئ بلکې د سجدو وروسته پورته شئ بسم الله، الحمدلله او سورت ووایئ رکوع او سجده وکړئ قعده وکړئ تشهد، وروسته او دعا ووایئ او سلام وګرځوئ.

مسئله: د فرض لمانځه په دریم او څلورم رکعت کې د فاتحې لوستلو وروسته د دریو ایتونو او یا یو سورت لوستل نشته دی الحمدلله ووایئ رکوع ته لاړشئ خو له فرضونه پرته، د نورو لمونځونو په هر رکعت کې الحمدلله نه وروسته درې ایتونه او یا سورت لوستل واجب دي

Download from: www.aghalibrary.com
CamScanner

مسئله: که چېرته امام پسې لمونځ کوئ یوائحې تکبیر تحریمه الله اکبر او ثناء سُبْحَانَكَ اللّٰهُمَّ به وایئ بسم الله، الحمدلله او سورت به یوائحې امام وایي، همدارنګه به دویم، درېیم اوڅلورم رکعت کې به امام پسې پټه خوله ولاړ اوسئ خو رکوع، سجدې تسبیح، تشهد، درود او دعا به امام پسې هم وایئ.

مسئله: رکوع داسې کوئ چې ملا او سر مو سره یوځای وي سر مو باید د ملا نه ټیټ نه وي پخپلولاسونو خپل زنګنونه کلک ونیسئ.

مسئله: سجده په داسې توګه کوئ چې لاسونه به پر ځمکه داسې کېږدئ چې لومړی ګوتې پر ځمکه کېږدئ د ټولو سرونه به د قبلې په طرف وي، څنګلې به له اړخونونه خېټه به له ورنونونه، ورنونه به له پنډیونه او پنډۍ به له ځمکې نه لرې ساتئ د پښوګوتې به مخامخ قبلې ته کوئ.

مسئله: له رکوع نه د را پورته کېدلو په وخت کې دې امام یوائحې سمع الله لمن حمده اومقتدي به یوائحې رَبَّنَا لَكَ الحَمْدُ وایي.

مسئله: د دواړو سجدو په منځ کې د تشهد او درود ویلو لپاره په داسې توګه کېنئ چې چپه پښه څملوئ او ورباندې کېنئ او ښئ پښه ودروئ او دواړه لاسونه پر زنګنونو کېږدئ چې ګوتې مو سره یو برابر وي.

مسئله: د تشهد ویلو په وخت کې چې کله اشهدان لااله الاالله ته ورسیږئ د ښي لاس غټه او منځنۍ ګوتې به سره حلقه کړئ، وړې ګوتې به راټولې کړئ او د شهادت په ګوته به اشاره وکړئ په داسې توګه چې کله لااله ته ورسیږئ ګوته به پورته کړئ او کله چې الاالله ته

ورسېږي بېرته به يې ښکته کړي.

مسئله: د ماښام او ماسختن په دوو لومړنيو او د سهار په دواړو رکعتونوکې واجب دي چې امام الحمدلله او له دې ځخه وروسته سورت په زوره ووايي.

## د سړي او ښځې په لمانځه کې فرق

ښځې به هم په داسې توګه لمونځ کوي لکه څرنګه چې يې يادونه وشوه، خو په کومو شيانوکې چې د سړي او ښځې په لمونځونوکې فرق شته په لاندې توګه دی.

۱-د تکبيرتحريمه د ويلو په وخت کې به سړي لاسونو له څادرنه را وباسي اوترغوږونو پورې به يې پورته کوي ښځې به هيڅکله لاسونه نه لوځوي اوتر اوږو پورې به يې پورته کوي.

۲-دتکبيرتحريمې نه وروسته به سړي لاسونه د سينې لاندې يا له پاسه ږدي ښځې به يې پرسينه ږدي.

۳-سړي به د ښي لاس غټه او وړه ګوته حلقه کوي او د چپ لاس سر به ورباندې نيسي او نورې ګوتې به يې د چپ لاس د پاسه وي، خو ښځې به د ښي لاس ورغوی په چپه لاس ږدي اوحلقه به نه جوړوي.

۴-سړي به په رکوع کې ښه تيتېږي چې لاسونه يې زنګنونو ته ورسېږي.

۵-په رکوع کې به سړي ګوتې پراخوي او د زنګانه سترګې به پرې کلکې نيسي خو ښځې به ګوتې نه پراخوي په عادي توګه به يې په زنګنونو باندې کېږدي.

۶-سړي به په رکوع کې لاسونه له اړخونونه لرې ساتې خو ښځې به يې

Download from: www.aghalibrary.com

CamScanner

یې نږدې کوي.

۷-سړي به په سجده کې خېټه له نس او لاسونو له اړخونونه لرې ساتي خو ښځې به یې یوځای کوي.

۸-سړي به په سجده کې ځنګلي په ځمکه نږدي، خو ښځې به یې ږدي

۹-د سجدې په حال کې به سړي پښې نیغې دروي، خو ښځې به یې ښي طرف ته وباسي.

۱۰-سړي به د قعدې په وخت کې چپه پښه ځملوي او وریاندې به کېني، ښي پښه به نېغه دروي، خو ښځې به دواړه پښې ښي لور ته وباسي او وریاندې به کیني.

## د وترو د لمانځه اداء کولو طریقه

د وترو د لمانځه اداء کولو طریقه داده چې دوه رکعته به وکړئ په قعده به کینئ تشهد به د عبده ورسو له پورې ووایئ پورته به شئ په درېیم رکعت کې به الحمدلله او ورسره د یو سورت ووایئ د الله اکبر په ویلو سره به لاسونه ترغوږونو پورې پورته کړیئ او بېرته به یې د سینې لاندې کېږدئ او دعاء قنوت به ووایئ او بیا به په رکوع ته لاړشئ، لمونځ به پوره کړئ.

## دعاءقنوت

اَللّٰهُمَّ إِنَّا نَسْتَعِينُكَ: وَنَسْتَغْفِرُكَ، وَنُؤْمِنُ بِكَ، وَنَتَوَكَّلُ عَلَيْكَ، وَنُثْنِي عَلَيْكَ الْخَيْرَ، وَنَشْكُرُكَ وَلَا نَكْفُرُكَ وَنَخْلَعُ وَنَتْرُكُ مَنْ يَفْجُرُكَ اللّٰهُمَّ إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَلَكَ نُصَلِّي وَنَسْجُدُ وَإِلَيْكَ نَسْعَى وَنَحْفِدُ نَرْجُو رَحْمَتَكَ وَنَخْشَى عَذَابَكَ إِنَّ عَذَابَكَ بِالْكُفَّارِ مُلْحِقٌ

Download from: www.aghalibrary.com
CamScanner

ژباړه: ای الله جل جلاله! موږ له تا نه مرسته او بښنه غواړو، پر تا ایمان لرو، پر تا توکل کوو، ستا غوره ستاینه کوو، ستا شکر اداء کوو ناشکري نه کوو، له هغه چا سره اړیکې پریکو چې له تا سره اړیکې پرې کوي.

ای الله جل جلاله! یوازې ستا عبادت کوو، تاته سجده کوو، ستا په لور او طرف د رځغلو، ستاحکم اوامرته منلوته تیار او چمتو یو ستا د رحمت هیله من یو او ستا له عذاب څخه وېرېږو بې شکه ستاعذاب کافرانو ته رسېدونکی دی.

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: څوک چې وترونه ونه کړي هغه زموږ څخه نه دی، دا یې درې ځلې وفرمایل نو وتر هیڅکله مه پرېږدئ (۴)

## د لمانځه فرضونه، واجبات، سنتونه او مکروهات

## د لمانځه فرضونه

د لمانځه فرضونه څوارلس دي چې ځینې د لمانځه نه مخکې اداء کول ضروري دي چې ورته د لمانځه شرطونه وايي او ځینې په لمانځه کې داخل دي چې ورته رکنونه وايي، چې په لاندې توګه دي.

### دلمانځه شرطونه:

۱-د بدن پاکوالی ۲-د جامو پاکوالی ۳-د لمانځه د ځای پاکوالی ۴-عورت پټول ۵-د لمانځه د وخت داخلېدل ۶-د کعبې په طرف مخ کول ۷-د لمانځه نیت کول.

۴-- شرح معاني الاثار۱۴۳۸/ (۵) ترغیب والترهیب ۲۱۰مخ

Download from: www.aghalibrary.com
CamScanner

د لمانځه رکنونه: ۸-تکبیرتحریمه ویل ۹-قیام د په ولاړه ودرېدل ۱۰-قرائت د قران کریم یو لوی ایت یا درې واړه ایتونه او یا وړوکی سورت لوستل ۱۱-رکوع کول -۱۲-سجده کول -وروستۍ قاعده ۱۴-د لمانځه نه په خپل عمل سره وتل.
که په دې شیانو کې یو هم پاتې او یا هېر شي نو لمونځ نه کېږي دویم ځلې یې کول ضروري دي.

## د لمانځه واجبات

د لمانځه واجبات په لاندې توګه دي

۱-د فاتحې سورت (الحمد لله) لوستل.

۲-د قران کریم د کوم سورت او یا ځو ایتونو ورسره یوځای لوستل.

۳-د فرض لمانځه په لومړنیو رکعتونوکې د قرائت لوستل. ۴-فاتحه (الحمدلله) د سورت نه مخکې لوستل.

۵-د رکوع نه وروسته برابر درېدل.

۶-د دواړو سجدو په منځ کې کېناستل.

۷-لومړۍ قعده کې کېناستل.

۸-تشهد ویل.

۹-د سلام په لفظ سره لمونځ پای ته رسول.

۱۰ د ماسپښین او مازدیګر په لمونځونو کې قرائت په خفیه (پټه) لوستل

۱۱-په جهري لمانځه یعنې د ماښام، ماسختن په دوو رکعتونو، سهار، جمعې، اخترونو او تراویح په ټولو رکعتونه کې د امام له طرفه

Download from: www.aghalibrary.com
CamScanner

قرائت په جهر (زوره) لوستل.

۱۲-د وترو په وروستي رکعت کې دعاء قنوت لوستل.

-د دعاء قنوت مخکې تکبير (الله اکبر) ويل.

۱۴-د دواړو اخترونو په لمونځونو کې شپږ زيات تکبيرونه ويل.

له چا څخه که چېرته کوم واجب هير او پاتې شي د سهوې سجده پرې واجب ده او که قصداً پاتې شي دويم ځل د لمانځه کرځول پرې واجبېږي.

## د لمانځه مفسدات (ماتونکي)

د لمانځه مفسدات په لاندې توګه دي که چېرته په قصدي ډول او يا په سهوې او هېرې سره وشي لمونځ فاسده وي.

۱-په لمانځه کې خبرې کول، لږې وي اوکه ډېرې په قصدسره اوکه په سهوې سره وي.

۲-سلام اچول او يا يې ځواب ورکول

۳-په لمانځه کې د پرنجي ځواب په يرحمک الله سره ويل.

۴-د مصيبت په وخت کې به إِنَّا لِلّٰهِ وَ إِنَّآ إِلَيْهِ رٰجِعُوْنَ سره ځواب ورکول يا د ښې خبرې د اورېدلو په وخت کې الحمد لله سره او يا د تعجب خبرې په اورېدلو په وخت کې سبحان الله ويل.

۵-د غم او مشکل له کبله په لمانځه کې اه يا اف الفاظ ويل.

۶-له خپل امام څخه پرته بل چاته فتحه ورکول.

۷-د قران له مخې په لمانځه کې قرائت لوستل.

۸-په قرائت کې داسې غلطي کول چې لمونځ ورباندې فاسد يږي.

۹-عمل کثير، زيات کار کول يعنې داسې يو کارکول چې د لمانځه

Download from: www.aghalibrary.com

CamScanner

ځخه نه وي او د لمانځه د اصلاح او سمون لپاره نه وي كه چېرته د لمانځه خارج يې ځوك ووينې نو ګمان كوي چې په لمانځه ولاړ نه دى او يا په يو وخت په دواړو لاسونو يو كاركول.

۱۰-په لمانځه كې قصدي او يا هېري سره د يو شي خوړل.

۱۱-له قبلې نه د سينې ګرځول.

۱۲-د كوم مصيبت او درد ځخه په لمانځه كې په داسې دول ژړل چې غږ ترې ووځي.

-په لمانځه كې په دومره اواز او غږ خندل چې خپله يې واورې لمونځ فاسدوي.

۱۴-د امام نه مخكې پورته كېدل.

دلته يو ځو مفسدات وليكل شول خو په لويوكتابونوكې نور هم ښودل شوي دي.

## د لمانځه سنتونه

په لمانځه كې لاندې شيان سنت دي.

۱-په تكبيرتحريمه كې به نارينه تر غوږونو پورې او ښځې به تر اوږو پورې دواړه لاسونه پورته كوي.

۲-د نارينه وو لپاره د سينې لاندې يا دپاسه او د ښځو لپاره هم د سينې له پاسه لاسونه كېښودل.

۳-د ثناء (سبحانک اللهم) ترپايه لوستل.

۴-د اعوذبالله لوستل.

۵-د بسم الله لوستل.

٦-له يوركن نه بل ركن ته دتللوپه وخت تكبيرونه ويل.

Download from: www.aghalibrary.com

CamScanner

۷-له رکوع نه په را پورته کېدلو سمع الله لمن حمده او ربنالک الحمد ویل.

۸-په رکوع کې لږ تر لږه درې ځلې سبحان ربي العظیم ویل.

۹-په سجده کې کم ترکمه درې ځلې سبحان ربي الاعلی ویل.

۱۰د دواړو سجدو په منځ او په تشهد کې د نارینوو لپاره د ښی پښې درول او د چپې پښې څملول او د ښځو لپاره د دواړو پښو ښي طرف ته ویستل او وریاندې کېناستل.

۱۱-درود شریف ویل.

۱۲-د درودنه وروسته دعاء ویل.

-د السلام علیکم ورحمة الله په ویلو سره مخ ښې او چپ طرف ته ګرځول.

۱۴-د سلام په وخت کې د ملایکو او مقتدیانو نیت کول.

او که چېرته مقتدي د امام ترشا وه په دواړو خواو کې دې نیت کوي، او که چېرته ښي او چپ طرف ته وه په هغه طرف دې نیت کوي.

## د لمانځه مستحبات

۱-که چا څادر اغوستی و، غوربونوته دلاسونو پورته کولو په وخت کې به لاسونه لوڅوي.

۲-د امکان تر اندازې د ټوخي مخه به نیسي.

۳-که اربمی ورشي خوله دې بندوي.

۴-د قیام په حالت کې د سجدې ځای ته کتل، د رکوع په حالت کې پښوته، د سجدې په وخت کې پوزې ته، د قعدې په حالت کې سینې ته او د سلام ګرځولو په حالت کې اوږوته کتل.

Download from: www.aghalibrary.com
CamScanner

# د لمانځه مکروهات

دا لاندې شیان په لمانځه کې مکروه دي.

۱-په تشو باندې لاسونه کېښودل.

۲-له لستوڼي نه لاسونه وېستل.

۳-کالي او جامې راټولول.

۴-په بدن اوکالیولوبې کول.

۵-د ګوتونه ټکونه ویستل .

۶-ښي او چپ طرف غاړه اړول.

۷-د سړي د سر ویښتان تاوول اولمونځ ورسره کول.

۸-تکیه وهل ۹-د سپي په شان په دوو پښو کېناستل.

۱۰-د سجدې په حالت کې ځنګلې پر ځمکه کېښودل.

۱۱-د سجدې په وخت کې خیټه او ورنونه یوځای کول.

۱۲-له شرعي عذر نه پرته پلتۍ وهل.

-د امام په محراب کې دننه درېدل.

۱۴-له صف نه جدا (یوائې) درېدل.

۱۵-طرف یا هم سرته دعکس ځوړندول.

۱۶-په عکس لرونکې کالیوکې لمونځ کول.

۱۷-په اوږوباندې څادریابل کالی ځوړندول.

۱۸-دمتیازو، لوړې او یا نورو څه ضرورت په حالت کې لمونځ کول.

۱۹-لوڅ سر لمونځ کول، دا حکم یوائې د نارینوو لپاره دی که چېرته ښځې لوڅ سر لمونځ وکړي لمونځ یې نه صحیح کېږي.

۲۰-په پټو سترګولمونځ کول.

Download from: www.aghalibrary.com
CamScanner

## د سهوې سجده

د واجبو په پرېښودلو يا د فرضو، واجبو په وروسته کولو يا د فرض له خپل ځای څخه وړاندې وروسته کولو او يا د فرضو په دويم ځل کولو سره د سهوې سجده لازمېږي او دا د هغه سهوې ځای نيسي او که چېرته په قصدي توګه وشي په سجده سهوې سره يې کار نه کېږي بلکې لمونځ به د دويم ځل لپاره زر بېرته راګرځوي
او که چېرته کوم فرض پاتې شي په سجده سهوې سره نه پوره کېږي.

## سهوې د سجدې طريقه

د سهوې سجدې طريقه داده چې په ورستنی قعده کې تشهد ترعبده ورسوله پورې ولولئ ښي طرف ته سلام وګرځوئ او دوه سجدې وکړئ، هر ځلې چې سجدې ته ځئ نو الله اکبر به وايئ د سجدو څخه وروسته به کينئ تشهد درود او دعاء به ولولئ او دواړو طرفونو ته به سلام وګرځوئ.

## د قصرلمونځ

څوک چې د اته څلويښت ميله او يا شپږ او يا کيلومتره واټن په نسبت له کوره ووځي، د خپل کلي او ښارله تللو نه وروسته د بېرته راتللو پورې به د ماسپښين مازديګر او ماسختن فرض لمونځوته به د څلورو رکعتونو پر ځای به دوه رکعته کوي خو که په سفر کې چېرته د پنځلسو ورځو او يا له دې زياتې ورځې پاتې کېده بيا به لمونځ پوره څلور رکعته کوي دا اته څلويښت ميله اويا شپږ او يا کيلو متره سفر که چېرته پيا ده، موټر، طياره ريل ګاډي او يا په بله کومه سپرلی

Download from: www.aghalibrary.com
CamScanner

کې وي د ټولو حکم يو دی.

مسئله: قصر يوائحې د ماسپښين، مازديګر او ماسخوتن د لمونځونو په فرضوکې دی د ماښام، سهار او همدارنګه له فرضو لمونځونو پرته په نورو لمونځونوکې نشته دی.

مسئله: که چېرته مسافر داسې امام پسې لمونځ کاوه چې مقيم و قصر ورته روا نه وو، نو مسافر به هم ورسره پوره لمونځ کوي.

Download from: www.aghalibrary.com
CamScanner

# د اخترونو بیان

## د اخترونو احکام

۱-غسل کول ۲-مسواک وهل ۳-کومې جامې او کالي چې لري په هغوی کې غوره کالي اغوستل، خو نارینه او ماشومان به د ورېښمو کالي نه اغوندي.

۴-عطر وهل

۵-په عیدګاه کې چې له اباد‌ۍ لرې وي لمونځ کول.

٦-عیدګاه ته پیاده تلل.

۷-د اختر لمانځه ته په یوه لاره تلل او په بله راتلل.

۸-د اختر د لمانځه مخکې په کور او یا په عیدګاه کې نفل لمونځ کول خو.که چېرته له عیدګاه څخه کورته راغی او یا په کور کې نفل لمونځ وکړي پروا نه لري.

۹-د وړوکي اختر د لمانځه مخکې خرما او یا نور خواږه شیان خوړل.

۱۰-که چېرته پر چا د فطر صدقه (سرسایه) واجبه وي د اختر د لمانځه نه وړاندې یې ورکول.

۱۱-په لوی اخترکې د لمانځه نه وروسته سملاسي قرباني کول غوره دا ده چې د قربان‌ۍ (حلالې) په ورځې د قربان‌ۍ د غوښې نه مخکې څه شی ونه خوري.

## د اختر د لمانځه طریقه

د اختر د لمانځه د دوور کعتونو نیت به وکړئ په زړه کې تر نیت وروسته امام او مقتدیان به لاسونه ترغوږونو پورې پورته کړي او الله

اکبر به ووايئ بيا به سبحانک اللهم تر پايه ووايئ وروسته به امام درې زايد تکبيرونه ووايي چې مقتديان به يې هم ووايي له هرتکبيرسره به لاسونه تر غوږونو پورې پورته کړئ او د تکبيرونوترمنځ به دومره ځنډ کوئ لکه چې درې ځلې سبحان الله ويل کېږي.

د درېيم تکبير نه وروسته به لاسونه د سينې لاندې يا د پاسه کېږدئ او امام به اعوذبالله او بسم الله به پوره ووايي فاتحه او بل سورت به ورسره يوځای ووايي او مقتديان به ولاړوي.

رکوع او سجدې به وکړئ په دويم رکعت کې به امام لومړی فاتحه او سورت وايي بيا به امام او مقتديان ټول درې تکبيرونه ووايي هر ځلې به لاسونه پورته کوي او خوشي به يې کړي په څلورم تکبيرکې به لاس پورته کولو پرته رکوع ته لاړشي او پاتې لمونځ به په عادي توګه وکړي.

مسئله: د وړوکي او لوی اختر لمونځونه پر خلکو واجب دي نه کول يې ګناه ده، خوکه چېرته يو سړی په سفرکې وي او په لمانځه کې ګډون ونه کړي پروا نه لري.

مسئله: د پر خلک د اختريه ورځ خطبه پرېږدي او ځي او يا د خطبې په وخت کې ناست وي خو خبرې کوي دا ټول د شريعت خلاف کاردی.

دتشريق تکبيرونه: د وړوکي اختر لمانځه ته دتګ په وخت په لاره د تشريق تکبيرونه خفيه ويل کېږي خو د لوی اختر لمانځه ته تګ په وخت کې په لاره دتشريق تکبيرونه په جهر ويل کېږي.

د تشريق تکبيرونه په لاندې ډول دي:

الله اکبر، الله اکبر، لااله الاالله، والله اکبر، الله اکبر ولله الحمد.

Download from: www.aghalibrary.com
CamScanner

ژباړه: الله تر ټولولوی دی، الله تر ټولولوی دی، الله نه پرته د عبادت وړ نشته دی او الله تر ټولولوی دی او یواځې الله ته غوره ستاینه ده.

مسئله: د لوی اختر د نهمې نېټې د سهار له لمانځه نه وروسته بیا د دیارلسمې نېټې د مازدیگر د لمانځه پورې په جهرسره په لوړغږ سره دتشریق تکبیرونه یوځل واجب دي، که چېرته له امام نه هېرشول مقتدي دې شروع کړي انتظار دې نه کوي.

## د تلاوت سجده

په قران کریم کې څوارلس داسې ځایونه دي که چېرته ولوستل شي او یا واورېدل شي سجده پرې واجبېږي دې سجدې ته دتلاوت سجده وایي دتلاوت د سجدې د پېژندنې لپاره د قران کریم په حاشیه (څنډه) کې د السجدة لفظ لیکل شوی وي خو په اوولسمه سیپاره کې د السجدة لفظ لیکل شوی د امام ابو حنیفه رحمه الله په نزد دلته د تلاوت سجده نشته ځکه دا ځای د څوارلسو سجدو نه زیات دی.

مسئله: دتلاوت په وخت کې چې کله د سجدې ایت تلاوت شي هغه وخت سجده کېږي که کوم سبب له امله هغه وخت سجده ونه شي سجده نه معاف کېږي بلکې بیا به یې ضرور کوي پر تلاوت کوونکي او پر هغه چا چې د سجدې ایت واوري په دواړو سجده لازمېږي.

مسئله: دتلاوت د سجدې کولوطریقه داده چې ودرېږئ الله اکبر ووایئ یوسجده به وکړئ بیابه الله کبر ووایئ او را پورته به شئ.

## د جنازې لمونځ

د جنازې لمونځ فرض کفایې دی که یې څوکسان اداء کړي فرض اداء کېږي خوڅومره چې خلک ډېر وي هومره دمړي په گټه دي ځکه چې دا

Download from: www.aghalibrary.com
CamScanner

معلومه نه ده چې د چا دعا قبلیږي او د بخښنې سبب ګرځي.
رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: که کوم مسلمان مړشي او څلوېښت کسان يې د جنازې لمونځ وکړي که د الله جل جلاله سره شریک نه وي نیولی الله جل جلاله ورته ببښنه کوي. [۵]
مسئله: د جنازې په لمانځه کې یواځې قیام (دریدل) او څلورتکبیرونه ویل فرض دي.

## د جنازې د لمانځه اداء کولو طریقه

د جنازې د لمانځه د اداء کولو طریقه دا ده چې مړی مخې ته کیږدئ د سینې مخامخ دې امام ودریږي اونیت دې په زړه کې وکړي.
د نیت نه وروسته دتکبیرې تحریمې په شان لاسونه غوږونوته پورته کړئ او یوځل الله اکبر ووایئ د نورو لمونځونو په څېرلاسونه د سینې لاندې کیږدئ.
بیابه سُبْحَانَكَ اللهُمَّ وَبِحَمْدِكَ، وتَبَارَكَ اسْمُكَ، وَتَعَالَى جَدُّكَ، وَلَا إِلَهَ غَيْرُكَ. ووایئ له دې څخه وروسته به یوځل الله اکبر ووایئ خودا ځل به لاسونه نه پورته کوئ بلکې درود به وایئ:
اللَّهُمَّ صَلِّ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا صَلَّيْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ، وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ، إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ، اللَّهُمَّ بَارِكْ عَلَى مُحَمَّدٍ وَعَلَى آلِ مُحَمَّدٍ، كَمَا بَارَكْتَ عَلَى إِبْرَاهِيمَ، وَعَلَى آلِ إِبْرَاهِيمَ إِنَّكَ حَمِيدٌ مَجِيدٌ.
بیا به یوځل الله اکبر ووایئ خودا ځل به هم لاسونه مه پورته کوئ

---

۵- مسلم ۹۴۸

Download from: www.aghalibrary.com

CamScanner

تردې تکبير (الله اکبر) وروسته به مړي ته دعاء وکړئ که چېرته مړی بالغ سړی یا ښځه وي نودا دعاء به ووایئ:

اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِحَيِّنَا وَمَيِّتِنَا، وَشَاهِدِنَا وَغَائِبِنَا، وَصَغِيرِنَا وَكَبِيرِنَا، وَذَكَرِنَا وَأُنْثَانَا، اللَّهُمَّ مَنْ أَحْيَيْتَهُ مِنَّا فَأَحْيِهِ عَلَى الْإِسْلَامِ، وَمَنْ تَوَفَّيْتَهُ مِنَّا فَتَوَفَّهُ عَلَى الْإِيمَانِ

ژباړه: ای الله جل جلاله! زموږ ژوندي، مړه، حاضر، غائب، ماشومان، مشران، نران او ښځې وبښې.

ای الله جل جلاله! څوک چې له موږ نه ژوندي يې په اسلام يې ژوندي ولره او څوک چې له موږ څخه مړه کوي له ايمان سره يې وفات کړه.

که چېرته مړی نرماشوم وي نودا دعاء ووایئ:

اللَّهُمَّ اجْعَلْهُ لَنَافَرَطًا،وَاجْعَلْهُ لَنَا أَجْرًا وَذُخْرًا، وَاجْعَلْهُ لَنَا شَافِعًا مُشَفعًا.

ژباړه: ای الله جل جلاله! هغه ماشوم راته د اخرت توښه وګرځوه او هغه راته اجر او ذخيره وګرځوه او هغه راته سپارښت کوونکی او سپارښت يې قبلول شوی وګرځوه.

او که چېرته ښځينه ماشومه وي نودا دعاء ووایئ:

اللَّهُمَّ اجْعَلْهَا لَنَا فَرَطًا وَاجْعَلْهَا، لَنَا أَجْرًا وَذُخْرًا، واجعلها لنا شافعاً ومشفعةً.

ژباړه: ای الله جل جلاله! هغه ماشومه راته د اخرت توښه وګرځوه، هغه راته اجر او ذخيره وګرځوه او هغه راته شفاعت کوونکې او شفاعت يې قبلول شوی وګرځوه.

Download from: www.aghalibrary.com
CamScanner

مسئله: د جنازې د لمانځه د تکبیر (الله اکبر) د ویلو پر وخت د اسمان طرف ته لیدل کوم اصل او د لیل نه لري.

مسئله: که چیرته د جنازې کوونکې بوټونه شپلې نا پاکه وي هغه په پښو شي او یا وریاندې ودریږي او د جنازې لمونځ وکړي، لمونځ یې نه صحیح کیږي د پر خلک په دې اړه له احتیاط نه کارنه اخلي او په نا پاکه بوټونو او شپلیو کې ودریږي.

مسئله: د جنازې په لمانځه کې د مقتدیانو لپاره په دریو، پنځو، اوو او نهو صفونو ودریدل مستحب دي.

## د لمانځه د برخې پای

Download from: www.aghalibrary.com
CamScanner

## شپږ کلمې

**لومړی: طیبه کلمه**

لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ مُحَمَّدٌ رَسُولُ اللَّهِ

**ژباړه:** له الله جل جلاله نه پرته بل د عبادت لایق نشته دی او محمد صلی الله علیه وسلم د الله جل جلاله رسول دی.

**دویمه: د شهادت کلمه:**

أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ

**ژباړه:** زه د دې ګواهي ورکوم چې د الله جل جلاله نه پرته بل د عبادت لایق نشته دی، هغه یو دی، شریک نه لري او د دې ګواهي ورکوم چې محمد صلی الله علیه وسلم د الله جل جلاله بنده او رسول دی.

**دریمه: د تمجید کلمه:**

سُبْحَانَ اللَّهِ وَالْحَمْدُ لِلَّهِ وَلا إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَاللَّهُ أَكْبَرُ وَلا حَوْلَ وَلا قُوَّةَ إِلاَّ بِاللَّهِ الْعَلِي الْعَظِيمِ

**ژباړه:** الله جل جلاله پاک دی، ستاینې هغه لره دي، د الله جل جلاله نه پرته بل د عبادت لایق نشته دی، الله جل جلاله تر ټولو لوی دی، د ګناهونو څخه د ساتنې او د نېکو کارونو دکولو توفیق یوائې هغه ورکوي، هغه د لویی او لوړ شان خاوند دی.

**څلورمه: د توحید کلمه:**

لاَ إِلَهَ إِلاَّ اللَّهُ وَحْدَهُ لاَ شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمَلِكُ وَلَهُ الْحَمْدُ يُحْيِي وَيُمِيتُ وَهُوَ حَيٌّ لاَ يَمُوتُ اَبَدًا اَبَدًا ذُوالْجَلَالِ وَالإِكْرَام بِيَدِهِ الْخَيْرُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ

**ژباړه:** له الله جل جلاله پرته بل د عبادت لایق نشته دی، یو ذات دی، شریک نه لري، پاچاهي او ستاینې هغه لره دي، ژوندي کول او مړه کول یې په واک کې دي، همېشه ژوندی دی، د عزت شان او شوکت خاوند دی،

Download from: www.aghalibrary.com
CamScanner

ښېګړه يې په کې ده او په هر څه قادر دی.

**پنځمه: د استغفار کلمه**

استغفرالله ربی من کل ذنب اذنبته عمداً او خطاءً سراً او علانية واتوب اليه من الذنب الذی اعلم ومن الذنب الذی لا اعلم انک انت علام الغيوب وستار العيوب وغفار الذنوب ولا حول ولاقوت الا بالله العلی العظيم

**ژباړه:** زه له هغه ذاته ښښنه غواړم چې زما رب دی، له هرې هغې ګناه څخه چې په قصد او يا مې په هېره سره کړې وي، د هغه په دربار کې له هرې ګناه څخه چې ما ته معلومه وي او يا نه وي توبه وباسم په تحقيق سره ربه! په پټو رازونو خبر يې! د عيبونو پټوونکی، د ګناهونو ښښونکی يې! له ګناه څخه د ساتنې او ښو کارونو د کولو توفيق يوازې ته ورکوې! په تحقيق سره د لويي او د لوړ شان خاوند يې.

**شپږمه: له کفره د بېزارۍ کلمه:**

اللّٰهُمَّ انی اعوذبک من ان اشريک بک شيئاً وانا اعلم به واستغفرک لما الاعلم به واستغفرک لمالا اعلم به تبت عنه وتبرات من الکفر والشرک والکذب والغيبة والبدعة والنميمة والفواحش والبهتان والمعاص کلها واسلمت واقول لا اله الاالله محمد رسول الله

الله جل جلاله: زه له تا پناه غواړم له دې څخه چې له تا سره بل څه سيال وګڼم او زه پرې پوهېږم او له هغه شرک څخه چې پرې نه پوهېږم الله جل جلاله تا ته توبه وباسم له هر کفر، شرک، درواغو، غيبت، بدعت، چغلي، سپکو سپورو، تور لګولو او ټولو ګناهونو څخه او ما ايمان راوړی او وايم چې: له الله جل جلاله نه پرته بل د عبادت وړ (معبود) نشته، محمد ﷺ د الله جل جلاله رسول دی.

Download from: www.aghalibrary.com
CamScanner

# څلویښت نبوي دعاګانې

## د سهار دعا

اللَّهُمَّ بِكَ أَصْبَحْنَا، وَبِكَ أَمْسَيْنَا، وَبِكَ نَحْيَا وَبِكَ نَمُوتُ وَإِلَيْكَ الْمَصِيرُ

سنن الترمذي ت شاكر (٥ / ٤٦٦)

"ای الله جل جلاله ستا په امر موږ سهار کړ او ستا په حکم موږ ماښام کړ، ستا په امر موږ ژوند کوو او ستا په امر موږ مره کیږو او له مړینې څخه وروسته ستا طرف ته درتلل دي".

## د ماښام دعا

اللَّهُمَّ بِكَ أَمْسَيْنَا وَبِكَ أَصْبَحْنَا وَبِكَ نَحْيَا وَبِكَ نَمُوتُ وَإِلَيْكَ النُّشُورُ

سنن الترمذي ت شاكر (٥ / ٤٦٦)

"ای الله جل جلاله ستا په امر موږ ماښام کړ او ستا په حکم موږ سهار کړ، ستا په امر موږ ژوند کوو او ستا په امر موږ مره کیږو او له مړینې څخه وروسته ستا طرف ته درتلل دي".

## د سهار او ماښام خاصه دعا

بِسْمِ اللَّهِ الَّذِي لَا يَضُرُّ مَعَ اسْمِهِ شَيْءٌ فِي الأَرْضِ وَلَا فِي السَّمَاءِ، وَهُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ

سنن الترمذي ت شاكر (٥ / ٤٦٥)

"د هغه الله جل جلاله په نامه چې له نامه سره يې په ځمکه او اسمان کې هيڅ شی ضرر نشي رسولای، هغه ښه پوه او ښه اورېدونکی دی".

## د ويده کېدلو په وخت کې دعا

اللَّهُمَّ بِاسْمِكَ أَمُوتُ وَأَحْيَا

صحيح البخاري (٨ / ٦٩)

Download from: www.aghalibrary.com
CamScanner

"ای الله جل جلاله ستا په نامه مړ (ویده) کیږم او ستا په نامه ژوندی کیږم (ویښیږم)".

**له خوب نه د راویښېدلو دعا**

الحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَحْيَانَا بَعْدَ مَا أَمَاتَنَا وَإِلَيْهِ النُّشُورُ

صحيح البخاري (٨ / ٦٩)

"غوره ستاینه هغه الله جل جلاله لره ده چې موږ یې له مړینې (خوب) نه ژوندي (ویښ) کړو او هم د ده لوري ته زموږ ورتګ دی".

**تشناب ته د تللو دعا**

اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الخُبُثِ وَالخَبَائِثِ

صحيح البخاري (١ / ٤١)

"ای الله جل جلاله زه په تا سره له نارینوو او ښځینوو شیطانانو څخه پناه غواړم".

**له تشناب څخه د راوتلو دعا**

الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَذْهَبَ عَنِّي الْأَذَى وَعَافَانِي

سنن ابن ماجه (١ / ١١٠)

"غوره ستاینه هغه الله جل جلاله لره ده چې له ما نه یې مشکل لرې کړ او ما ته یې صحت راکړ".

**د اودس په وخت کې دعا**

بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ

سنن أبي داود (١٠١)

"د الله جل جلاله په نامه شروع کوم چې ډېر مهربانه او زیات رحم کوونکی دی".

**د اودس نه وروسته دعا**

أَشْهَدُ أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ، وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُولُهُ،

Download from: www.aghalibrary.com

CamScanner

اللَّهُمَّ اجْعَلْنِي مِنَ التَّوَّابِينَ، وَاجْعَلْنِي مِنَ الْمُتَطَهِّرِينَ

سنن الترمذي ت شاكر (۱ / ۷۸)

''زه د دې خبرې ګواهي ورکوم چې له الله جل جلاله پرته بل د عبادت وړ نشته، هغه يو دى شريک نه لري او د دې ګواهي ورکوم چې محمد ﷺ د الله جل جلاله بنده او اِستازى دى، اى الله جل جلاله ما د توبه ويستونکيو نه وګرځوه او له پاکو کسانو څخه مې وګرځوه''.

**مسجد ته د ننوتلو دعا**

اللهُمَّ افْتَحْ لِي أَبْوَابَ رَحْمَتِكَ

صحيح مسلم (۱ / ٤٩٤):

''اى الله جل جلاله د خپل رحمت دروازې راخلاصې کړه''.

**په مسجد کې د ناستې دعا**

سُبْحَانَ اللهِ وَالْحَمْدُ لِلهِ وَلَآ اِلٰهَ اِلَّا اللهُ وَاللهُ اَكْبَرُ

(الاذكار للنوي: صـ ۷۷)

''پاکي الله جل جلاله لره ده، غوره ستاينې الله جل جلاله لره دي، له الله جل جلاله پرته د عبادت وړ نشته او الله جل جلاله تر ټولو لوى دى''.

**له مسجد نه د راوتلو دعا**

اللهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ مِنْ فَضْلِكَ

صحيح مسلم (۱ / ٤٩٤)

''اى الله جل جلاله زه له تا څخه ستا د فضل او مهربانۍ غوښتنه کوم''.

**له اذان نه وروسته دعا**

اللَّهُمَّ رَبَّ هَذِهِ الدَّعْوَةِ التَّامَّةِ، وَالصَّلاَةِ الْقَائِمَةِ آتِ مُحَمَّدًا الوَسِيلَةَ وَالفَضِيلَةَ، وَابْعَثْهُ مَقَامًا مَحْمُودًا الَّذِيْ وَعَدْتَهُ إِنَّكَ لَا تُخْلِفُ الْمِيعَادَ

Download from: www.aghalibrary.com
CamScanner

صحيح البخاري (۱ / ۱۲٦)

"ای الله جل جلاله ای د دې پوره بلنې او د کېدونکي لمونځ خاونده! محمد ﷺ ته په جنت کې وسیله خاصه درجه او خاص فضیلت ورکړې او هغه ستایل شوي مقام ته یې ورسوې چې تا ورسره وعده کړې ده، بېشکه چې ته د خپلې وعدې مخالفت نه کوې".

### د فرض لمانځه د سلام ګرځولو نه وروسته دعا

اللَّهُمَّ أَنْتَ السَّلَامُ، وَمِنْكَ السَّلَامُ، تَبَارَكْتَ يَا ذَا الْجَلَالِ وَالْإِكْرَامِ

سنن النسائي (۳ / ٦٨)

"ای الله جل جلاله ته له ټولو عیبونو څخه پاک یې او ستا له طرفه سلامتیا ده، ته د ډېر برکت خاوند یې ای د لویې او عزت خاونده".

### د سهار او ماښام د لمانځه نه وروسته دعا

اللَّهُمَّ أَجِرْنِي مِنَ النَّارِ

سنن أبي داود (٤ / ٣٢٠)

"ای الله جل جلاله ما له دوزخ نه وساتې".

### له کور نه د وتلو دعا

بِسْمِ اللَّهِ، تَوَكَّلْتُ عَلَى اللَّهِ، لَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ

سنن الترمذي ت شاكر (٥ / ٤٩٠)

"د الله جل جلاله په نامه سره له کور نه وځم په الله جل جلاله مې توکل او باور کړی، له ګناهونو څخه ځان ساتنه او د نېک عمل طاقت ورکول یوازې د الله جل جلاله کار دی".

### کور ته د ننوتلو دعا

اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ خَيْرَ الْمَوْلَجِ، وَخَيْرَ الْمَخْرَجِ، بِسْمِ اللَّهِ وَلَجْنَا، وَبِسْمِ اللَّهِ خَرَجْنَا، وَعَلَى اللَّهِ رَبِّنَا تَوَكَّلْنَا

Download from: www.aghalibrary.com
CamScanner

سنن أبي داود (٤ / ٣٢٥)

"ای الله جل جلاله له تا څخه د ښه وتلو او ښه ننوتلو غوښتنه کوم، د الله جل جلاله په نامه سره ووتلو او د الله جل جلاله په نامه سره ننوتلو او یوازې په الله جل جلاله مو توکل او باور کړی دی".

## بازار ته د ننوتلو دعا

بِسْمِ اللَّهِ، اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ خَيْرَ هَذِهِ السُّوقِ، وَخَيْرَ مَا فِيهَا، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّهَا، وَشَرِّ مَا فِيهَا، اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ أَنْ أُصِيبَ فِيهَا يَمِينًا فَاجِرَةً، أَوْ صَفْقَةً خَاسِرَةً

المستدرك على الصحيحين للحاكم (١ / ٧٢٣)

"د الله جل جلاله په نامه سره بازار ته ننوتلم، ای الله جل جلاله د دې بازار د خیر او په دې بازار کې چې خیر دی له تا نه غوښتنه کوم، ای الله جل جلاله زه له تا نه د دې د شر نه او د هغه شیانو له شر نه پناه غواړم چې په دې بازار کې دی. ای الله جل جلاله په دې بازار کې په دروغو له قسم خوړلو او یا په معامله کې د تاوان کولو څخه په تا پناه غواړم".

## د ډوډۍ خوړلو نه مخکې دعا

بِسْمِ اللَّهِ وَبَرَكَةِ اللَّهِ

المستدرك على الصحيحين للحاكم (٤ / ١٢٠):

"د الله جل جلاله په نامه او د الله جل جلاله په برکت شروع کوم".

## د ډوډۍ خوړلو په منځ کې دعا

2 که چیرته له چا نه د ډوډۍ په شروع کې بسم الله هېره شوه؛ نو په منځ کې دې داسې ووایي:

بِسْمِ اللَّهِ أَوَّلَهُ وَآخِرَهُ

سنن أبي داود (٣ / ٣٤٧)

Download from: www.aghalibrary.com
CamScanner

"په اول او اخر کې د الله جل جلاله په نامه ډوډۍ خورم".

د ډوډۍ خوړلو نه وروسته دعا

اَلحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي أَطْعَمَنَا وَسَقَانَا وَجَعَلَنَا مُسْلِمِينَ

سنن الترمذي ت شاکر (۵ / ۵۰۸)

"ټوله غوره ستاینه هغه الله جل جلاله لره ده چې موږ ته يې خوراک او څښاک راکړ او موږ يې مسلمانان پيدا کړي يو".

د شېدو څښلو په وخت کې دعا

اللَّهُمَّ بَارِكْ لَنَا فِيهِ وَزِدْنَا مِنْهُ

سنن الترمذي ت شاکر (۵ / ۵۰۷)

"ای الله جل جلاله په دې شېدو کې برکت واچوې له دې نه ډېرې راکړې".

د ملېمستیا د ډوډۍ نه وروسته دعا

اللهُمَّ، أَطْعِمْ مَنْ أَطْعَمَنِي، وَأَسْقِ مَنْ سَقَانِي

صحيح مسلم (۳ / ۱۶۲۵)

"ای الله جل جلاله چا چې ما ته خواړه راکړل خواړه ورکړې، چا چې اوبه راکړې اوبه ورکړې".

د روژه ماتي دعا

اللَّهُمَّ لَكَ صُمْتُ، وَعَلَى رِزْقِكَ أَفْطَرْتُ

سنن أبي داود (۲ / ۳۰۶)

"ای الله جل جلاله ستا د رضا لپاره ما روژه ونیوله او ستا په رزق ما روژه ما ته کړه".

د جامو اغوستلو دعا

الْحَمْدُ لِلَّهِ الَّذِي كَسَانِي هَذَا الثَّوْبَ وَرَزَقَنِيهِ مِنْ غَيْرِ حَوْلٍ مِنِّي، وَلَا قُوَّةٍ

Download from: www.aghalibrary.com
CamScanner

سنن أبي داود (٤ / ٤٢)

"ټوله غوره ستاينه هغه الله ﷻ لره ده چې ما ته يې دا جامه راواغوستله او پرته له کوم طاقت نه يې ما ته راکړه".

### د نويو جامو اغوستلو دعا

اللَّهُمَّ لَكَ الحَمْدُ أَنْتَ كَسَوْتَنِيهِ، أَسْئَلُكَ خَيْرَهُ وَخَيْرَ مَا صُنِعَ لَهُ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّهِ وَشَرِّ مَا صُنِعَ لَهُ

سنن الترمذي ت شاکر (٤ / ٢٣٩)

"ای الله ﷻ تا لره ټوله غوره ستاينه ده چې تا ما ته جامه راواغوستله زه د هغې د خير او د څه شي لپاره چې جوړه شوې ده د هغې د خير غوښتنه کوم او پناه غواړم د هغې د شر نه او د هغه څه له شر نه چې د څه لپاره جوړه شوې ده".

### په شيشه کې د ځان ليدلو دعا

الْحَمْدُ لِلَّهِ، اللَّهُمَّ كَمَا حَسَّنْتَ خَلْقِي فَحَسِّنْ خُلُقِي

عمل اليوم والليلة لابن السني (١ / ١٣٨)

"ای الله ﷻ لکه څرنګه چې دې صورت راته ښکلی کړی دی همدارنګه مې اخلاق هم ښايسته کړه".

### ناوې ته د مبارکۍ دعا

بَارَكَ اللَّهُ لَكَ، وَبَارَكَ عَلَيْكَ، وَجَمَعَ بَيْنَكُمَا فِي خَيْرٍ

سنن أبي داود (٢ / ٢٤١)

"الله ﷻ دې تا ته برکت درکړي او پر تا دې برکت نازل کړي او تاسو دواړه دې په خير سره يو ځای کړي".

### حمام ته د ننوتلو دعا

اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الْجَنَّةَ، وَأَعُوذُ بِكَ مِنَ النَّارِ

Download from: www.aghalibrary.com

CamScanner

سنن أبي داود (١ / ٢١٠)

"ای الله جل جلاله له تا نه د جنت غوښتنه کوم او له دوزخ نه پناه غوارم".

## د نوي میاشت د لیدلو دعا

اللَّهُمَّ أَهِلَّهُ عَلَيْنَا بِالْيُمْنِ وَالإِيمَانِ وَالسَّلَامَةِ وَالإِسْلَامِ، رَبِّي وَرَبُّكَ اللَّهُ

سنن الترمذي ت شاكر (٥ / ٥٠٤)

"ای الله جل جلاله دا میاشت پر موږ باندې په برکت، ایمان، سلامتیا او اسلام په رڼا کې تېره کړې، د هغه عملونو توفیق راکړې چې ستا خوښ وي او ته پرې راضي کېږې زما او ستا رب او خاوند الله جل جلاله دی".

## د ناروغ د پوښتنې په وخت کې دعا

لاَ بَأْسَ، طَهُورٌ إِنْ شَاءَ اللَّهُ

صحيح البخاري (٤ / ٢٠٢)

"هیڅ پروا نشته، ان شاء الله دا ناروغي به ستا د ګناهونو د پاکوالي سبب وي".

## د قرض اداء کولو دعا

اللَّهُمَّ إِنِّي أَعُوذُ بِكَ مِنَ الهَمِّ وَالحَزَنِ، وَالعَجْزِ وَالكَسَلِ، وَالبُخْلِ وَالجُبْنِ، وَضَلَعِ الدَّيْنِ، وَغَلَبَةِ الرِّجَالِ

صحيح البخاري (٤ / ٣٦)

"ای الله جل جلاله زه له خپګان او غم نه، له کمزورتیا او لټۍ نه، بخیلۍ او بې زړه توب نه او د قرض زیاتېدو او د خلکو له غلبې موندلو نه په تا سره پناه غوارم".

## د تعزیت دعا

إِنَّ لِلَّهِ مَا أَخَذَ، وَلَهُ مَا أَعْطَى، وَكُلٌّ عِنْدَهُ بِأَجَلٍ مُسَمًّى، فَلْتَصْبِرْ، وَلْتَحْتَسِبْ

Download from: www.aghalibrary.com
CamScanner

صحيح البخاري (۲ / ۷۹)

''الله جل جلاله لر دي هغه څه چې يې واخيستل او هغه لره دي څه چې ورکوي او هر څه د ده په وړاندې د ټاکلې نيټې پورې دي او ښايي چې صبر وکړې او له الله جل جلاله نه اجر او ثواب وغواړې''.

### د مړي ښخولو په وخت کې دعا

بِسْمِ اللَّهِ وَعَلَى سُنَّةِ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ

سنن أبي داود (۳ / ۲۱٤)

''د الله جل جلاله په نامه سره او د رسول الله ﷺ په سنت طريقې سره يې ښخوو''.

### د تېز باد د الوتلو په وخت کې دعا

اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْئَلُكَ خَيْرَهَا وَأَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّهَا

سنن أبي داود (۲ / ۲٤۸)

''اې الله جل جلاله زه له تا نه د دې تېز باد د خير غوښتنه کوم او له شر نه يې په تا سره پناه غواړم''.

### د تالندې دعا

سُبْحَانَ الَّذِي يُسَبِّحُ الرَّعْدُ بِحَمْدِهِ وَالْمَلاَئِكَةُ مِنْ خِيفَتِهِ

موطأ مالك ت الأعظمي (٥ / ١٤٤٤)

''پاک دی هغه ذات چې تالنده او ملايکې د هغه له وېرې د هغه حمد او ثنا وايي''.

### د باران غوښتلو دعا

اللَّهُمَّ اسْقِنَا غَيْثًا مُغِيثًا، مَرِيئًا مَرِيعًا، نَافِعًا غَيْرَ ضَارٍّ، عَاجِلًا غَيْرَ آجِلٍ

سنن أبي داود (۱ / ۳۰۳)

''اې الله جل جلاله پر موږ نجات ورکوونکی، خوندور، واښه شنه کوونکی، ګټه رسوونکی، ضرر نه رسوونکی، زر کېدونکی نه ځنډېدونکی باران وورووه''.

Download from: www.aghalibrary.com

CamScanner

## د باران د ودرېدو دعا

اَللّٰهُمَّ حَوَالَيْنَا وَلاَ عَلَيْنَا، اللّٰهُمَّ عَلَى الآكَامِ وَالظِّرَابِ، وَبُطُونِ الأَوْدِيَةِ، وَمَنَابِتِ الشَّجَرِ

صحيح البخاري (٢ / ٢٨)

"ای الله جل جلاله زموږ په خواوشا باندې باران ووروه او پر موږ باندې يې مه وروه، ای الله جل جلاله پر غرو رغونو، د خوړونو په منځونو او د ونو بوټو د شنه کېدو په ځايونو يې ووروه".

## په سپرلۍ او موټر کې د سپرېدو دعا

سُبۡحٰنَ الَّذِیۡ سَخَّرَ لَنَا هٰذَا وَ مَا کُنَّا لَهٗ مُقۡرِنِیۡنَ ﴿۱۳﴾ وَ اِنَّاۤ اِلٰی رَبِّنَا لَمُنۡقَلِبُوۡنَ ﴿۱۴﴾

الزخرف (١٣-١٤)

"پاک دی هغه ذات چې موږ ته يې دا سپرلۍ تابع کړې ده او موږ د هغه مهارونکي نه يو او بېشکه موږ خپل پالونکي ته خامخا تلونکي يو".

## هديرې ته د تللو دعا

السَّلَامُ عَلَيْكُمْ يَا أَهْلَ الْقُبُورِ، يَغْفِرُ اللّٰهُ لَنَا وَلَكُمْ، أَنْتُمْ سَلَفُنَا، وَنَحْنُ بِالأَثَرِ

سنن الترمذي ت شاكر (٣ / ٣٦٠)

"ای د دې قبرونو اوسېدونکيو! الله جل جلاله دې موږ او تاسو ته بښنه وکړي، تاسې مخکې وفات شوي یاست او موږ دربسې يو".

Download from: www.aghalibrary.com
CamScanner

# سورتونه

آیاتها ٤ ۱۰۳ سُوْرَةُ الْعَصْرِ مَكِّيَّةٌ ۱۳ رکوعها ۱

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَالْعَصْرِ ﴿١﴾ اِنَّ الْاِنْسَانَ لَفِيْ خُسْرٍ ﴿٢﴾ اِلَّا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ وَتَوَاصَوْا
بِالْحَقِّ ۙ وَتَوَاصَوْا بِالصَّبْرِ ﴿٣﴾

آیاتها ۱۰ ۱۰٤ سُوْرَةُ الْهُمَزَةِ مَكِّيَّةٌ ۳۲ رکوعها ۱

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

وَيْلٌ لِّكُلِّ هُمَزَةٍ لُّمَزَةِ ﴿١﴾ الَّذِيْ جَمَعَ مَالًا وَّعَدَّدَهٗ ﴿٢﴾ يَحْسَبُ اَنَّ مَالَهٗ اَخْلَدَهٗ ﴿٣﴾ كَلَّا
لَيُنْبَذَنَّ فِي الْحُطَمَةِ ﴿٤﴾ وَمَا اَدْرٰىكَ مَا الْحُطَمَةُ ﴿٥﴾ نَارُ اللّٰهِ الْمُوْقَدَةُ ﴿٦﴾ الَّتِيْ تَطَّلِعُ عَلَى
الْاَفْئِدَةِ ﴿٧﴾ اِنَّهَا عَلَيْهِمْ مُّؤْصَدَةٌ ﴿٨﴾ فِيْ عَمَدٍ مُّمَدَّدَةٍ ﴿٩﴾

آیاتها ٦ ۱۰۵ سُوْرَةُ الْفِيْلِ مَكِّيَّةٌ ۱۹ رکوعها ۱

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَلَمْ تَرَ كَيْفَ فَعَلَ رَبُّكَ بِاَصْحٰبِ الْفِيْلِ ﴿١﴾ اَلَمْ يَجْعَلْ كَيْدَهُمْ فِيْ تَضْلِيْلٍ ﴿٢﴾ وَّ
اَرْسَلَ عَلَيْهِمْ طَيْرًا اَبَابِيْلَ ﴿٣﴾ تَرْمِيْهِمْ بِحِجَارَةٍ مِّنْ سِجِّيْلٍ ﴿٤﴾ فَجَعَلَهُمْ كَعَصْفٍ
مَّاْكُوْلٍ ﴿٥﴾

آیاتها ٥ ۱۰٦ سُوْرَةُ قُرَيْشٍ مَكِّيَّةٌ ۲۹ رکوعها ۱

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

لِاِيْلٰفِ قُرَيْشٍ ﴿١﴾ اٖلٰفِهِمْ رِحْلَةَ الشِّتَآءِ وَالصَّيْفِ ﴿٢﴾ فَلْيَعْبُدُوْا رَبَّ هٰذَا الْبَيْتِ ﴿٣﴾

Download from: www.aghalibrary.com
CamScanner

الَّذِیْٓ اَطْعَمَهُمْ مِّنْ جُوْعٍ ۙ۬ وَّ اٰمَنَهُمْ مِّنْ خَوْفٍ ۝

اٰیَاتُهَا ۷ | ۱۰۷ سُوْرَةُ الْمَاعُوْنِ مَکِّیَّةٌ ۱۷ | رُکُوْعُهَا ۱

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

اَرَءَیْتَ الَّذِیْ یُکَذِّبُ بِالدِّیْنِ ۝ فَذٰلِكَ الَّذِیْ یَدُعُّ الْیَتِیْمَ ۝ وَ لَا یَحُضُّ عَلٰی
طَعَامِ الْمِسْکِیْنِ ۝ فَوَیْلٌ لِّلْمُصَلِّیْنَ ۝ الَّذِیْنَ هُمْ عَنْ صَلَاتِهِمْ سَاهُوْنَ ۝ الَّذِیْنَ
هُمْ یُرَآءُوْنَ ۝ وَ یَمْنَعُوْنَ الْمَاعُوْنَ ۝

اٰیَاتُهَا ۳ | ۱۰۸ سُوْرَةُ الْکَوْثَرِ مَکِّیَّةٌ ۱۵ | رُکُوْعُهَا ۱

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

اِنَّآ اَعْطَیْنٰكَ الْکَوْثَرَ ۝ فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَ انْحَرْ ۝ اِنَّ شَانِئَكَ هُوَ الْاَبْتَرُ ۝

اٰیَاتُهَا ۶ | ۱۰۹ سُوْرَةُ الْکٰفِرُوْنَ مَکِّیَّةٌ ۱۸ | رُکُوْعُهَا ۱

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

قُلْ یٰٓاَیُّهَا الْکٰفِرُوْنَ ۝ لَآ اَعْبُدُ مَا تَعْبُدُوْنَ ۝ وَ لَآ اَنْتُمْ عٰبِدُوْنَ مَآ اَعْبُدُ ۝ وَ لَآ
اَنَا عَابِدٌ مَّا عَبَدْتُّمْ ۝ وَ لَآ اَنْتُمْ عٰبِدُوْنَ مَآ اَعْبُدُ ۝ لَکُمْ دِیْنُکُمْ وَ لِیَ دِیْنِ ۝

اٰیَاتُهَا ۳ | ۱۱۰ سُوْرَةُ النَّصْرِ مَدَنِیَّةٌ ۱۱۴ | رُکُوْعُهَا ۱

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِیْمِ

اِذَا جَآءَ نَصْرُ اللّٰهِ وَ الْفَتْحُ ۝ وَ رَاَیْتَ النَّاسَ یَدْخُلُوْنَ فِیْ دِیْنِ اللّٰهِ اَفْوَاجًا ۝ فَسَبِّحْ
بِحَمْدِ رَبِّكَ وَ اسْتَغْفِرْهُ ؕ اِنَّهٗ کَانَ تَوَّابًا ۝

Download from: www.aghalibrary.com
CamScanner

ایاتها ٦ ﴿١١١ سُورَةُ اللَّهَبِ مَكِّيَّةٌ ٦﴾ رکوعها ١

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

تَبَّتْ يَدَآ اَبِيْ لَهَبٍ وَّتَبَّ ۝١ مَآ اَغْنٰى عَنْهُ مَالُهٗ وَمَا كَسَبَ ۝٢ سَيَصْلٰى نَارًا ذَاتَ لَهَبٍ ۝٣ وَّامْرَاَتُهٗ ؕ حَمَّالَةَ الْحَطَبِ ۝٤ فِيْ جِيْدِهَا حَبْلٌ مِّنْ مَّسَدٍ ۝٥

ایاتها ٥ ﴿١١٢ سُورَةُ الْإِخْلَاصِ مَكِّيَّةٌ ٢٢﴾ رکوعها ١

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

قُلْ هُوَ اللّٰهُ اَحَدٌ ۝١ اَللّٰهُ الصَّمَدُ ۝٢ لَمْ يَلِدْ ۙ وَلَمْ يُوْلَدْ ۝٣ وَلَمْ يَكُنْ لَّهٗ كُفُوًا اَحَدٌ ۝٤

ایاتها ٦ ﴿١١٣ سُورَةُ الْفَلَقِ مَكِّيَّةٌ ٢٠﴾ رکوعها ١

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ الْفَلَقِ ۝١ مِنْ شَرِّ مَا خَلَقَ ۝٢ وَمِنْ شَرِّ غَاسِقٍ اِذَا وَقَبَ ۝٣ وَمِنْ شَرِّ النَّفّٰثٰتِ فِي الْعُقَدِ ۝٤ وَمِنْ شَرِّ حَاسِدٍ اِذَا حَسَدَ ۝٥

ایاتها ٧ ﴿١١٤ سُورَةُ النَّاسِ مَكِّيَّةٌ ٢١﴾ رکوعها ١

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

قُلْ اَعُوْذُ بِرَبِّ النَّاسِ ۝١ مَلِكِ النَّاسِ ۝٢ اِلٰهِ النَّاسِ ۝٣ مِنْ شَرِّ الْوَسْوَاسِ ۙ الْخَنَّاسِ ۝٤ الَّذِيْ يُوَسْوِسُ فِيْ صُدُوْرِ النَّاسِ ۝٥ مِنَ الْجِنَّةِ وَالنَّاسِ ۝٦

Download from: www.aghalibrary.com
CamScanner